# اوبه او انرژي



د کمال خان بند

د اوبو او انرژي وزارت نشراتي ارګان

۲۹ ګڼه

دیارلسم کال نهه‌وېشتمه ګڼه، د ۱۴۰۳ هـ ش کال څلورمه ربع (جدي، دلو، حوت) چې د ۱۴۴۶ هـ ق کال سره سمون لري

ستا رنګینه منظره چې خیال ته راشي
تصور مې له هرڅه نه بې پروا شي

ستا زرین لمر، ستا نښتر د ستا غاټول به
مې هېر نه شي که هر څو حسن وړیا شي

تورې وریځې له سورکي غابني راواوړي
چې په تا یې شي نظر پړنګ په ژړا شي

شاهیکوټه څه زلمي درکې پناه شول
خدایګو وایه ! چې په تا یې څه بها شي

د مسکو او واشنګټن خوني لښکرې
د ستا نوم یې چې تر غوږ شي په لړزا شي

ستا بچي و هر ښامار ته مومین خان وي
ستا غازیان و هر دجال ته مسیحا شي

تل تر تله دې لاس بر په غلیم اوسه
د سعید دې مستجابه دا دعا شي

قاري عبدالستار (سعید)

# د دې ګڼې په پاڼو کې

سرلیکنه........................................................................................۲
د کمال خان بند دریيم فاز پروژه ګټې اخیستنې ته و سپارل شوه................................۵
د شاه او عروس بند پروژه ګټې اخیستنې ته و سپارل شوه......................................۶
علاقه مندی یک شرکت روسی و افغان برای سرمایه گذاری در پروژه های آب و انرژی ..............................۸
د اوبو او انرژي وزارت د رهبری غونډه ترسره شوه..............................................۱۱
تفاهم نامه همکاری به منظور اعمال دو بند ذخیروی در ولایت هرات به امضا رسید........................۱۵
د مقالو برخه..........................................................................................۱۷
Third Phase of Kamal Khan Dam Project Inaugurated.........................۵۳

د امتیاز خاوند: د اوبو او انرژي وزارت
مسؤول مدیر: خواجه فقیر محمد " صدیقي "
کتنپلاوی:
قاري محمد عبدالعزیز "عزیز"
الحاج غلام جیلاني "حق پرست"
انجنیر عزیزالرحمن "عزیز"
برکت الله " آریوبي"
انجنیر همت الله "امین زی"
سمونکی: بازمحمد " درمل "
مترجم: فهیم " صمیم "
راپور تران: نعمت الله " اخلاقي" او اسدالله "ایوبي"
عکس اخستونکی: محمد حکیم "فیض"
ډیزاینر: سید مصور " سادات "
وېشونکی: سیدعادل "سادات"

درک: د دارالامان عمومي سرک، سناتوریم، کابل- افغانستان
ویب پاڼه: mew.gov.af
برښنالیک: chiefofstaff@mew.gov.af
info@mew.gov.af
د اړیکو شمېرې: ۰۷۷۳۲۱۸۴۱۸ / ۰۷۷۷۹۱۷۸۹۸

درنو لوستوونکو!
د « اوبهٔ او انرژي » مجلي او میاشتنۍ جریدې د سافټ مونډلو لپاره کولای شئ، ددې اداري ویب سایټ ته مراجعه وکړئ.
یادونه: کومې مقالې چې په" اوبهٔ او انرژي" مجله کې خپرېږي، پهٔ لیکوالانو پورې اړه لري؛ هر لیکوال ته بویه چې د خپلې لیکنې دفاع پخپله وکړي.
د مجلې او لیکوال د نوم پهٔ یادولو سره هر چاته د مأخذ پهٔ توګه د استفادې اجازه ده.

## سـرلیکـنه

# ماران سره یاران دي

د افغانستان اسلامي امارت کهٔ هر څو د خپل دیني او هېوادني مسؤلیت او لوړو اخلاقي ارزښتونو له مخې له هېواد څخه د تل لپاره د جګړې د تغر ټولولو، هېوادوالو ته د سوله ایز او ډاډمن ژوند شرایطو برابرولو، د وینې تویولو د لړۍ بندولو او د هېواد د ځمکنۍ بشپړتیا، ملي واکمنې او خپلواکي ساتلو په خاطر د خپلو وروڼو قاتلانو او د هېواد او خپلواکي پلورونکو ته د عمومي بښنې په اعلان سره هغوی ته خپله د شفقت غېږه خلاصه کړه او د دوی د سر، مال او آبرو د خوندیتوب ژمنه وکړه، هغوی یې د ګران هېواد په غېږ کې د خپلو هېوادوالو په څنګ کې سوله ایز ژوند ته را وبلل، که څهٔ هم یو لوی شمېر خلکو له دغې عمومي بښنې څخه استفاده وکړه، خو متأسفانه چې یو شمېر جنګسالارن او د استعمار غلامان چې خپله هم نهٔ پوهېږي چې د دوی تېري کړنې له هیڅا څخه پټې نهٔدي.

دوی د هېواد د رنګولو، خپلو خلکو د وژلو، ترړلو او شړلو اوږده مخینه لري، نور د ملت په منځ کې ځای او هېوادوالو ته د مخ ښکارولو وړتیا نهٔلري، حتی بادارانو یې هم ښهٔ پېژندلي دي ځکه خو یې د سیاسي او فزیکي حتمي مرګ کومې ته وسپارل، خو لاهم د هېواد د ابدي د ښمنانو دربار ته په تمه دي، د یوهٔ بل چانس د ترلاسه کولو او بخت آزمایلو لپاره لاس او پښې وهي، د هغوی پهٔ غېږ او منګولو کې لوبېږي، د ګران هېواد د رنګولو او خپلو خلکو د وژلو پلانونه جوړوي او د خپلو پرځای پردیو ته د خپلې وفاداري ثابتولو او د هغوی د زړېږ د هضمولو په خاطر د لته او هلته کله پرلیکه او کله په حضوري بڼه سره را ټولېږي؛ ترڅو په هېواد کې د جګړې اور بل او بېګناه هېوادوال پکې لولپه کړي. دغه راز که کوم شخص، ډله او یا هېواد د افغانستان په ضد کوم منفي تبلیغ یا اقدام کوي، نو تر هر چا وړاندې دوی وي چې د افغانستان له مخالف اړخ سره درېږي او هغوی ته د افغانستان د اسلامي نظام، هېواد، خلکو او خپلواکي خلاف د اقدام حق ورکوي، ستاینه یې کوي او پلوي یې کوي.

دا چې امارت له دوی سره د ترحم، شفقت او انسانیت برخورد کوي او دوی لاهم د سرټمبګي، عناد او جهالت پرخرهٔ سپاره دي زموږ په نظر اساسي علتونه یې لمړی د افغانستان له نوم او وجود او د دې هېواد له خلکو او نظام سره د دوی طبيعي حسد او کینه ده چې نه غواړي افغانان د موجوده اسلامي نظام تر سیوري لاندې د سولې او ورورۍ په فضا کې ژوند وکړي او دوهم علت یې د خپلو بهرنیو مربیانو او بادارانو ګټې خوندي کول دي؛ ځکه چې " کسی که نان دهد، فرمان دهد."

دوی د خپلو بادارانو د زړېږ هضمولو په خاطر له افغانانو سره له هیڅ ډول د ښمنۍ څخه ډډه نهٔکوي، موږ پوهېږو چې د افغانستان کورني او بهرني دښمنان ټول د دغهٔ هېواد، خلکو او نظام لپاره ماران دي او " ماران سره یاران دي."

خو الحمدلله چې د افغانستان ټولو خلکو اوس دغه ماران تر پخوا ډېر ښه پېژندلي او له خپلو سوړو څخه د را وتلو وخت او فرصت بهٔورنکړي.

# د مسلمان عزت ساتل

مولوي عزیر الله (سهار)

**الحمد لله وکفى والصلاة والسلام على خير خلق الله وعلى آله واصحابه الاتقيا أما بعد:**

فاعوذ بالله من الشيطان الرحيم

بسم الله الرحمان الرحيم

**فقد قال الله تبارک وتعالى:**

قُلِ ٱللَّهُمَّ مَٰلِكَ ٱلْمُلْكِ تُؤْتِي ٱلْمُلْكَ مَن تَشَآءُ وَتَنزِعُ ٱلْمُلْكَ مِمَّن تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَن تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَآءُ ۖ بِيَدِكَ ٱلْخَيْرُ ۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ(۲٦، اية،سورة آل عمران)

وایضاً قال رسول الله -صلى الله عليه وسلم:

عن أَبي هُريْرة رض أنَّ رسُول اللَّهِﷺ قَالَ: كُلُّ المُسلِمِ عَلَى المُسْلِمِ حرَامٌ: دَمُهُ وعِرْضُهُ ومَالُهُ رواه مسلم.

صدق الله مولاناالعظيم وصدق رسوله النبى الكريم

**۱ -د مسلمان عزت ساتل یو ضروري امر دی:**

یو مسلمان ته دا نه دی روا چې د بل مسلمان بې عزتي وکړي، حضرت پیغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايي:

"كل المسلم على المسلم حرام، دمه وماله وعرضه."

ژباړه: غوند مسلمان پر بل مسلمان باندې حرام دی، وینه يې، مال يې او عزت يې.

بناء: په یوه طریقه هم د یو مسلمان بې عزتي جواز نلري هغه که د ناموس بې عزتي وي، د اولاد بې عزتي وي، د مال له لارې وي او که د حیثیت له نګاه وي ....

یادونه: نن سبا ځینې مسلمانان پر یو لوی هلاک کېدونکي مرض اخته دي، هغه دا چې یو د بل سپکاوی، بې حیثیته کول، بې عزته کول يې یو معمول ګرځېدلی، چې که یو مسلمان الله پاک د عزت او حیثیت څښتن ګرځولی وي؛ نو لعین شیطان او بد نفس د بل مسلمان زړه نا ارامه کړي، نو هر قسم تخریب يې چې پر توان او وس کې وي وروسته شروع يې کړي تر دې چې پخپله هم د هلاکت کندې ته ولوېږي او د بل مسلمان نوم هم د څه وخت لپاره بد کړي.

**له عبرت ډکه واقعه:**

باب ما جاء دماؤكم وأموالكم عليكم حرام

۲۱۵۹ : حدثنا هناد حدثنا أبو الأحوص عن شبيب بن غرقدة عن سليمان بن عمرو بن الأحوص عن أبيه قال سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول في حجة الوداع للناس أي يوم هذا قالوا يوم الحج الأكبر قال فإن دماءكم وأموالكم وأعراضكم بينكم حرام كحرمة يومكم هذا في بلدكم هذا ألا لا يجني جان إلا على نفسه ألا لا يجني جان على ولده ولا مولود على والده ألا وإن الشيطان قد أيس من أن يعبد في بلادكم هذه أبدا ولكن ستكون له طاعة فيما تحتقرون من أعمالكم فسيرضى به

رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَصَحَّحَهُ. [جه: ۳۰۵۵، ت: ۲۱۵۹]

ژباړه:

حضرت عمر بن الاحوص له خپل پلار څخه روايت کوي، چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه په حجة الوداع کې اوریدلي دي، هغه صلى‌الله علیه وسلم صحابهٔ کرامو ته وفرمایل:

دا کومه ورځ ده؟

**صحابهٔ کرامو ورته وويل:**

دا ورځ د حج اکبر ده یعنې د حج ورځ ده.

**پېغمبر عليه السلام وفرمايل:**

بېشکه وینې ستاسو، مالونه ستاسو او عزتونه ستاسو، ستاسو په منځ کې داسې حرام دي لکه حرمة ستاسو په دا نن ورځ کې او په دې ښار د مکې مکرمې کې،

خبر دار هېڅ يو تېری کوونکی تېری(ګناه، جرم) نه کوي مګر د خپل ځان په تاوان يې کوي، خبردار هېڅ يو پلار تېری نه کوي په خپل زوی باندې او هېڅ یو زوی زیاتی نه کوي له خپل پلاره سره.

**خبردار!**

بېشکه شیطان به همېشه نا امیده وي په دې ښار(مکه مکرمه اويا جزيرة العرب)کې له دې چې بنده‌ګي يې وشي، مګر ژر ده چې وي به دده (شیطان) تابع داري په هغه څه کې چې تاسو يې سپک( کم ) ګڼئ ستاسو له اعمالو څخه نو ژر ده چې په دې به ستاسو نه راضي شي.

توضیح: په پورتني روایت کې درې خبرې جوته ځرګندېږي:

۱- لکه څرنګه چې تاسو په دې ورځ د حج او په دې ښار د مکې مکرمې کې یو او بل وژلی نشئ، تېری، زیاتی او خپل منځي جنګونه بې عزتي او داسې نور....

**۲ -عزت او ذلت د پروردګارعالم لخوا ده:**

هېڅ یو بنده نشي کولای چې بل چاته عزت او یا ذلت ورکړي، بلکه لوی خدایﷻ چې وغواړي هغه به کېږي ، **اللهﷻ فرمايي :**

قُلِ ٱللَّهُمَّ مَٰلِكَ ٱلۡمُلۡكِ تُؤۡتِي ٱلۡمُلۡكَ مَن تَشَآءُ وَتَنزِعُ ٱلۡمُلۡكَ مِمَّن تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَن تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَآءُۖ بِيَدِكَ ٱلۡخَيۡرُۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ (٢٦، اية،سورة آل عمران)

ژباړه: ته ووایه اې محمده(صلی الله علیه وسلم) چې اې الله تعالیﷻ ته ښښتن او مالک د بادشاهي یې ، ورکوې دا بادشاهي چې چاته دې خوښه شي، او ورنه اخلې دا بادشاهي له چانه چې خوښه دې شي، عزت ورکوې چاته چې خوښه دې شي او ذلت ورکوې چې چاته دې خوښه شي، ستا په قدرت او اختیار کې خیر دی، ببشکه ته پر هر شي قادر یې.

**توصیه:**

مسلمانه وروره هېڅکله د چا د ترقی او پر مخ تګ مانع مه ګرځه، یو ځل چې خداوند متعال د یو چا د سرلوړي او پرمخ تګ اراده کړې وي، ته نشې کولای هغه سر ټیټی او شاته پاته کړې، سمه ده یو څه وخت به ناکامي هڅې وکړې خو پاېښت به ونلري.

۳ -مسلمان ته سپکاوی او بې عزتي د ګناهونو لامل ګرځي.

د مسلمان سپکاوی او بې عزتي د قتل، جنګ، غیبت، تهمت، چغلخوري، حسد، کینې، درواغ، دوکې، بد ګمانۍ او داسې نورو سترو ګناهونو لامل ګرځي، ځکه یو څوک چې د یو چا بې عزتي کوي او یا یې مخامخ کوي چې جنګ، جنجال او یا قتل ورنه جوړېږي، او یا د یو مسلمان بې عزتي د هغه په غیاب او نشتون کې کېږي چې د نورو ګناهونو سبب ګرځي.

٤ -د مسلمان پرده او عزت کول د خپل ځان پرده او عزت ده، مسلمان ته ضرر رسول ځان ته ضرر رسول دي.

عن أبي هريرة رضي الله عنه - قال: قال رسول الله - صلى الله عليه وسلم -: ((من ستر مسلماً ستره الله في الدنيا والآخرة)) (أخرجه: مسلم ٧٠/٨ [٢٦٩٩].

حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمايي: څوک چې د یو مسلمان پرده وکړي ، الله پاکﷻ به یې په دنیا او اخرت کې پرده وکړي.

**وقال رسول الله - صلى الله عليه وسلم** -: ((مَن ضارَّ أضرَّ اللهُ به، ومن شاقَّ شقَّ اللهُ عليه)) حديث حسن أخرجه أحمد ٣ / ٤٥٣ من حديث أبي صرمة رضي الله عنه)

اخرجه صحيح مسلم باب تحريم الظلم ٢٥٣٨

همدارنګه حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمايي:

یو څوک چې مسلمان ته ضرر ور ورسوي، الله تعالیﷻ به ددې ضرر سزا ورکړي، یو څوک چې جنګ او جنجال وکړي ناحقه له یو مسلمان سره، الله تعالیﷻ به دی په جنګ او جنجال اخته کړي.

٥ -مسلمان دې پر بل مسلمان ملنډې نه وهي، په بدنوم دې نه یادوي.

**الله پاکﷻ په قرآن کریم کې فرمايي:**

( يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّن قَوْمٍ عَسَىٰ أَن يَكُونُوا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلَا نِسَاءٌ مِّن نِّسَاءٍ عَسَىٰ أَن يَكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ وَلَا تَلْمِزُوا أَنفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ وَمَن لَّمْ يَتُبْ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ )

ژباړه:

اې هغه کسانو چې ایمان مو راوړی دی، هېڅ قوم دې پر بل قوم ملنډې نه وهي، کېدای شي هغوی له دوی نه غوره وي، او هېڅ ښځې دې په نورو ښځو پورې ملنډې نه وهي، کېدای شي هغوی له دوی نه غوره وي. خپل ځانونو ته عیبونه مه لټوئ، او یو بل په بدو نومونو مه یادوئ. د ایمان وروسته فسق (بد عمل) نوم ډېر بد دی، او څوک چې توبه ونه باسي، نو همدوی ظالمان دي.

**تشریح:**

دا آیت مسلمانانو ته د یو بل د درناوي او عزت سپارښتنه کوي. په دې کې تاکید شوی چې د بل چا په کمزوریو پورې ملنډې وهل، هغوی ته د کمتري نظر سره کتل، او یا هغوی په سپکو نومونو سره یادول په اسلام کې سخت منع دي. دا عمل نه یوازې د نورو زړونه ازاروي بلکې د ایمان لرونکي شخصیت هم خرابوي. الله تعالیﷻ موږ ته امر کوي، چې یو بل ته درناوی وکړو او د ورورولۍ فضا وساتو.

حضرت پیغمبر علیه السلام فرمايي:

"لَا فَضْلَ لِعَرَبِيٍّ عَلَى أَعْجَمِيٍّ وَلَا لِأَعْجَمِيٍّ عَلَى عَرَبِيٍّ وَلَا لِأَحْمَرَ عَلَى أَسْوَدَ وَلَا لِأَسْوَدَ عَلَى أَحْمَرَ إِلَّا بِالتَّقْوَى".

(المصدر: مسند أحمد)

**ژباړه:**

هیڅ عرب پر غیر عرب باندې برتري نه لري، او نه غیر عرب پر عرب باندې برتري لري، نه سپین پر تور باندې برتري لري، او نه تور پر سپین باندې برتري لري، مګر یوازې د تقوا له مخې.

**تشریح:**

دا حدیث د اسلام پیغام روښانه کوي، چې ټول انسانان مساوي دي، او د رنګ، نسل، ژبې یا قوم په اساس هېڅوک له بل چا لوړ نه دی. یوازینی ځانګړتیا چې د برتري معیار ګرځېدلی، هغه اسلام او تقوا ده، یعنې د اللهﷻ څخه وېره او د هغه اطاعت.

بناء: د مسلمان بې عزتي په یو نام او په بل نام هېڅ کله روانه ده.

# د کمال خان بند درېيم فاز پروژه ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه



د دغې پروژې د ګټې اخيستنې ته د سپارلو د مراسمو پيل د اوبو او انرژي وزارت سرپرست محترم الحاج ملا عبداللطيف منصور، د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت سرپرست مولوي عطاالله عمري، د نيمروز والي شيخ محمد قاسم خالد، د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معين مجيب الرحمن عمر آخندزاده، د اسلامي امارت د مشرانو او د ګڼ شمېر ځايي اوسېدونکو په شتون کې د نومړي بند په ساحه کې ترسره شول.

د اوبو او انرژي سرپرست د دغې پروژې ګټې اخيستنې ته د سپارلو په مراسمو کې څرګنده کړه چې اسلامي امارت په هېواد کې امنيت، اسلامي نظام او اقتصادي پراختيا رامينځته کړې، پدې اساس د افغانستان له خلکو څخه تمه کېږي چې د دښمن د تبليغاتو پر وړاندې ويښ او بيداره واوسي.

ښاغلي منصور ټينګار وکړ چې د اسلامي امارت رهبري د وچکالۍ وضعيت او د خلکو اړتياوو ته په کتو د هېواد د اوبو مديريت ته ژمن دی او پدې هکله ګاونډي هېوادونو ته ډاډ ورکوي چې د دغه بند له جوړولو څخه به هېڅ هېواد زيانمن نه شي.

له بلې خوا د اوبو معين په دغه مراسمو کې يادونه وکړه چې د کمال خان بند د سېلابونو د کنټرولولو او د اوبو د مديريت په موخه جوړ شوی او د اوبو او انرژي وزارت ډاډ ورکوي چې د دغه بند په جوړېدلو سره به هېڅ هېواد زيانمن نه شي.

په همدې حال کې د کرنې وزارت سرپرست، په دغه مراسمو کې يادونه وکړه چې د اسلامي امارت مشران د افغانستان خلکو ته د خدمتونو د وړاندې کولو لپاره په بېلابېلو برخو کې شپه او ورځ په صداقت سره هڅې کوي.

همدارنګه د نيمروز والي د اسلامي امارت رهبرۍ دغه ولايت ته د پاملرنې په ستايلو سره، يادونه وکړه چې پدې وروستيو کې له نيکه مرغه د نيمروز خلک په دغه ولايت کې د څو لويو پروژو د پرانيستې شاهدان دي.

د يادونې وړ ده چې د کمال خان بند د هېواد له لويو بندونو څخه دی، چې د نيمروز ولايت په چهار برجک ولسوالۍ کې د موسمي سېلابونو د کنټرول، د ۵۲ ميليونه متر مکعبه اوبو د ذخيره کولو او د ۶ مېګاواټه برق د توليد د وړتيا په موخه پلي شوی دی.

دغه بند د اوبو وضعيت ته په کتو سره کولی شي ۱۷۴۰۰۰ هکتاره کرنيزه ځمکه د خړوبولو لاندې ونيسي.

## چکدم اساسی دره کرنج در ولایت لغمان به هزینه بیش از ۳ میلیون افغانی به بهره برداری سپرده شد

در مراسم بهره برداری چکدم مذکور شیخ شیراحمد حقانی والی لغمان، مولوی شیرجان راشیدی رئیس آب و انرژی ولایت لغمان، مسئولین موسسه ایف، جی، او و یک تعداد بزرگان قومی اشتراک نموده بودند.

آقای حقانی از اعمار چکدم متذکره ابراز خرسندی نمود و افزود که در بخش مدیریت آب تلاش های بسیاری خواهد نمود و رئیس آب و انرژی ولایت لغمان نیز به اشتراک کننده گان در مورد مشخصات تخنیکی، فواید اجتماعی و اقتصادی چکدم مذکور معلومات کامل را ارایه نمود.

کار اعمار چکدم مذکور به هزینه مالی موسسه دبلیو، ایف، پی و کمک تخنیکی موسسه ایف، جی، او تحت نظارت ریاست آب و انرژی ولایت لغمان به ارزش ۳ میلیون ۴۰۰ هزار افغانی در مدت سه ماه تکمیل گردید.

این چکدم ۲۶ متر طول و ۴،۵ متر ارتفاع دارد، که با داشتن ظرفیت ذخیره کردن ۳۵۰۰ مترمکعب آب ۹۰ هکتار زمین زراعتی را آبیاری میکند.

قابل ذکر است که در امور اعمار چکدم مذکور به تعداد زیادی از باشنده گان محل زمینه کار مساعد گردیده و با آن آب های زیر زمین تقویه خواهد شد، آب سیلاب ها مهار خواهد شد و زیبایی طبعیت را چند برابر خواهد کرد.

## کار پروژه حفظ و مراقبت بند دهله ولایت کندهار با هزینه ۱۰ میلیون افغانی آغاز گردید

کار پروژه حفظ و مراقبت بند دهله ولایت کندهار با هزینه ۱۰ میلیون افغانی امارت اسلامی افغانستان از سوی وزارت آب و انرژی تحت نظارت ریاست آب و انرژی ولایت کندهار آغاز شد.

در این پروژه که برای شماری زیادی از مردم زمینه کار مساعد شده، کار آن در ظرف سه‌ونیم ماه تکمیل و به بهره برداری سپرده خواهد شد.

# د شاه او عروس بند پروژه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه



د دغې پروژې ګټې ته د سپارلو مراسم د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال محترم الحاج مولوي عبدالکبیر، د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال محترم الحاج ملا عبدالغني برادر، د ریاست الوزرا اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي، د اوبو او انرژي سرپرست وزیر محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور، د اوبو معین محترم مجیب الرحمن عمر آخندزاده، د انرژي معین محترم الحاج مولوي عبدالهادي یعقوب، د کابل والي محترم الحاج امین الله عبید، د ایران اسلامي جمهوریت سفارت د مسؤلینو، د اسلامي امارت د لوړ پوړو مسؤلینو او د کابل ولایت د شکر درې ولسوالي د ګڼ شمېر اوسېدونکو په شتون کې ترسره شوه.

د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال محترم الحاج مولوي عبدالکبیر د شاه او عروس بند د پرانیستې په مراسمو کې د دغه بند بشپړېدل د هېواد د آبادۍ او پراختیا په برخه کې د اسلامي امارت له ژمنو څخه یوه ژوندۍ بېلګه وګڼله.

همدارنګه، د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال په اوسنیو شرایطو کې د اوبو د مدیریت ارزښت ته په اشارې سره ټینګار وکړ، چې د اوبو مدیریت او د انرژي پراختیا د اسلامي امارت په لومړیتوبونو کې ځای لري.

په ورته مهال، د ریاست الوزرا اداري مرستیال د دغه بند بشپړېدل د اوبو د مدیریت  په برخه کې یو مثبت ګام وباله.

همدغه راز، د اوبو او انرژي سرپرست وزیر په دغه غونډه کې په هېواد کې د اوبو او انرژي سکتورونو پرمختګ د ستاینې وړ وباله او یادونه یې وکړه، چې د للندر شاتوت بند په ګډون د څلورو سترو بندونو د پروژو وړاندیز د اسلامي امارت د رهبري له لوري منظور شوی دی، چې چارې به یې په راتلونکي کال کې پیل شي.

په ورته مهال، د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین محترم مجیب الرحمن عمر آخندزاده اقلیمي بدلونونو ته اشاره وکړه او ټینګار یې وکړ، چې  په اوسنیو شرایطو کې د دغه اقلیمي بدلونونو اغېزې ایجابوي چې د اوبو د مدیریت لپاره لا زیاتې هڅې ترسره شي.

همدارنګه، په دغه مراسمو کې د کابل والي حاجي امین الله عبید وویل، چې اسلامي امارت د هېواد پراختیا ته ژمن دی او په دې برخه کې په هره څانګه کې نبې لاسته راوړنې هم درلودلې دي.

د یادونې وړ ده، چې د شاه او عروس بند د اوبو او انرژي وزارت له لوري د ۵۳ میلیونه ډالرو په تولیز لګښت د اوبو د مدیریت او د کابل د اوسېدونکو لپاره د څښاک اوبو د برابرولو په موخه پلي شوی دی.

دغه بند د ۷۷ متره په لوړوالي سره په یوه کال کې د ۳۰ میلیون متره مکعب اوبو د تنظیم وړتیا لري، چې د ۲۷۰۰ تر ۳۵۰۰ هکتاره کرنیزه ځمکه خړوبوي او ۵ میلیون متره مکعب څښاک اوبه برابروي. همدارنګه، دغه بند د  ۱.۲ میګاواټه برېښنا د تولید وړتیا هم لري.

## چهار پروژه در ولایت پنجشیر با هزینه بیش از ۲۰ میلیون افغانی به بهره برداری سپرده شدند

پروژه‌های تحکیمات سواحل سفیدار باغ ولسوالی شتل، دیوار استنادی وسیلبر قریه نویجه ولسوالی دره، د یوار استنادی و سیلبر قریه تاواخ و تحکیم کاری قریه پای چنار ولسوالی رخه ولایت پنجشیر با هزینه ۲۰ میلیون و ٤ صدو ٤٨ هزارو ۳صدو ۵۳ افغانی با حضور محترم مولوی فضل الله عادل، رئیس آب و انرژی ولایت پنجشیر، شماری دیگر از مسئولین محلی و باشندگان محل به بهره برداری سپرده شدند.

کارپروژه‌های مذکور با هزینه مالی وزارت آب و انرژی تحت نظارت ریاست آب و انرژی ولایت پنجشیر به پیشبرده می‌شدند و در آن برای شماری زیادی از مردم محل زمینه کار مساعد شده بود.

با به بهره سپردن این پروژه‌ها به صدها هکتار زمین زراعتی از تخریبات سیلاب‌ها محفوظ شدند.

## د ارزګان ولایت په ترینکوټ کې یو چکډېم د څه باندې ۸ میلیونه افغانیو په لګښت ګټې اخیستنې ته وسپارل شو

د ارزګان ولایت په مرکز ترینکوټ کې د یوه چکډېم چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

نوموړی چکډېم د ارزګان ولایت د اوبو او انرژي ریاست په تخنیکي مرسته د آی، سي، آر، سي په مالي لګښت سره د څه باندې ۸ میلیونه افغانیو په ارزښت ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

د یادولو وړ ده چې دغه چکډېم سره به د ځمکې لاندې اوبه تغذیه شي او ۳۶۰ کسانو ته پکې د کار زمینه برابره شوې وه.

## سرپرست وزارت آب و انرژی با والی کنر در مورد پروژه های آب و انرژی در آن ولایت بحث و تبادل نظر کردند



محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی در دفتر کار خویش با محترم مولوی قدرت الله ابو حمزه والی ولایت کنر دیدار نمودند.

در این دیدار والی ولایت کنر مشکلات و پیشنهادات مردم آن ولایت را با مقام رهبری وزارت شریک نموده خواستار تطبیق پروژه های آب و برق در آن ولایت شد.

سرپرست وزارت آب و انرژی به والی کنر اطمینان داد که با توجه به امکانات موجود به پیشنهادات مردم ولایت کنر در راستای تطبیق پروژه های مدیریت آب و انکشاف انرژی رسیدگی خواهد شد.

## د اوبو او انرژي سرپرست وزیر د فراه له والي سره د بخش آباد بند پروژې د چارو د وضعیت د پرمختګ او په هغه ولایت کې د اوبو او انرژي پروژو د پلي کولو په هکله خبرې وکړې

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور د خپل کار په دفتر کې د فراه له والي محترم مولوي غوث الدین رهبر او مل پلاوي سره وکتل او د بخش آباد بند د چارو د وضعیت د پرمختګ او په هغه ولایت کې د اوبو او انرژي د لا زیاتو پروژو د پلي کولو په هکله بحث او اندونو تبادله وکړه.

په دغه لیدنه کې، د فراه والي د بخش آباد بند دچارو د وضعیت د پرمختګ په هکله اړین معلومات وړاندې کړل او په هغه ولایت کې یې د اوبو و انرژي لا زیاتو پروژو د پلي کولو غوښتنه وکړه.

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر په دغه لیدنه کې د فراه والي ته ډاډ ورکړ، چې د شته امکاناتو او متوازنې پراختیا په پام کې نیولو سره به په هغه ولایت کې د اوبو او انرژي لا زیاتې پروژې پلي شي.

## د آریانا طبي کمپلکس په روغتون کې د فاضلابو د تصفیه‌خونې د جوړولو پروژه بشپړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو

دغه پروژه د اوبو او انرژي وزارت د اوبولګولو، اوبو رسولو او کانالیزاسیون د تنظیم د رئیس محترم انجنیر اعجازالحق دانشیار، د دغه وزارت د اوبو د تخصیص رئیس محترم مولوي محمد حکیم سمسور او د ښاروالي او د چاپېریال ساتنې ریاستونو د ګڼ شمیر مسؤلینو او د نوموړي روغتون د مسؤلینو په شتون کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

د اوبو او انرژي وزارت د اوبولګولو، اوبو رسولو او کانالیزاسیون رئیس د نوموړې پروژې ګټې ته د سپارلو په غونډه کې یادونه وکړه، چې په افغانستان کې د اوبو سرچینو د کمېدو وضعیت ته په کتو سره په دغه هېواد کې د تصفیه خونو جوړول یوه بنسټیزه اړتیا ده او د اوبو سیما، د کرنې اوبو د برابرولو، سرسبزي او د هېواد د اوبیزو سرچینو په برخه کې د ځانګړي ارزښت درلودونکی دی.

ښاغلي دانشیار په دغه غونډه کې د کابل ښاروالي او نورو اړوندو ادارو مسؤلینو ته ډاډ ورکړ، چې د اوبو او انرژي وزارت په پام کې لري، چې په راتلونکي کې د تصفیه خونو پلي کول پراخ کړي او له دې لارې د کرنې او سرسبزي لپاره د اوبو د برابرولو زمینه چمتو کړي.

په ورته مهال، د اوبو او انرژي وزارت د اوبو د تخصیص رئیس محترم مولوي محمد حکیم سمسور هم په دغه غونډه کې په کابل ښار کې د اوبو سرچینو د کمېدو وضعیت ته اشاره وکړه او ټینګار یې وکړ، چې د اوبو او انرژي وزارت د اوبو سرچینو د بې ځایه ګټې اخیستنې د مخنیوي لپاره ډیر او د پام وړ فعالیتونه ترسره کړي دي.

د یادونې وړ ده، چې دغه تصفیه خونه د اوبو او انرژي وزارت له لوري د نوموړي روغتون په تمویل سره د د خلوېښت زره آمریکایي ډالرو په لګښت پلي شوي او په شاوا روز کې د ۶۰ متره مکعب اوبو د تصفیې وړتیا لري.

## مسئولین یک‌شرکت روسی و افغان علاقه‌مندی سرمایه‌گذاری شان را در پروژه‌های آب و انرژی ابراز نمودند



محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور، سرپرست وزارت آب و انرژی با آقای پیوتر الکساندرویچ، رئیس‌شرکت میتاخیم روسی و محترم انجنیر نجیب الله صادق، رئیس‌شرکت صلح دیدار کرد و پیرامون سرمایه‌گذاری در پروژه‌های آب و انرژی بحث و تبادل نظر نمودند.

مسئولین شرکت‌های مذکور در این دیدار علاقه‌مندی سرمایه‌گذاری شان را در پروژه‌های آب و انرژی ابراز نموده و خواهان همکاری در این راستا شدند.

سرپرست وزارت آب و انرژی در این دیدار به روئسای شرکت‌های مذکور وعده هر نوع همکاری در راستای مساعد نمودن زمینه سرمایه‌گذاری را داد و به آنها پیشنهاد نمود که در پروژه‌های بند شاه توت للندر و انتقال آب از پنجشیر به کابل سرمایه گذاری نمایند و افزود که اکنون در افغانستان از هر لحاظ زمینه برای سرمایه گذاری مهیا شده است.

همچنان، در آخر این دیدار فیصله گردید که تیم‌های تخنیکی شرکت‌های مذکور با تیم تخنیکی وزارت پیرامون مسائل تخنیکی پروژه‌ها صحبت نمایند، تا زمینه برای آغاز کار عملی مساعد شود.

---

## مسئولین یک‌شرکت چینایی در دیدار با معین انرژی علاقه مندی خویش را به سرمایه گذاری روی پروژه های انرژی در افغانستان ابراز کردند

د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین محترم الحاج ملا عبدالهادي یعقوب د خپل کار په دفتر کې د «هوچین انتیلیجنت پاور» چینايي شرکت له مسؤلینو سره وکتل.

په دغه لیدنه کې، د نوموړي شرکت مسؤلینو وویل، لېواله دي چې په افغانستان کې د برېښنا انرژي د تولید، وېش او شبکو د پراختیا برېښنا انرژي د تولید، وېش او شبکو د پراختیا په پروژو کې پانګونه وکړي.

د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین د نوموړي شرکت مسؤلینو ته ډاډ وکړ، چې د اوبو او انرژي وزارت رهبري د انرژي په پروژو کې د نوموړي شرکت د پانګونې هر کلي کوي او په دې برخه کې به له هغوی سره همکار و اوسي.

## پکتیکا ولایت کې یو سربند او استنادي دېوال د ٦ میلیونه افغانیو په لګښت ګټې اخیستنې ته وسپارل شول

د پکتیکا ولایت په سرحوضي او خیر کوټ ولسوالیو کې یو سربند او استنادي دېوال د ٦ میلیونه افغانیو په لګښت د پکتیکا والي محترم مخدوم عبدالسلام سعادت، د پکتیکا د اوبو او انرژي رئیس محترم قاري فتح محمد ذاکر او یو شمېر نورو مسؤلینو په شتون کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.

د دغو پروژو ګټې ته په سپارلو سره ۵۰ جریبه کرنیزه ځمکه له ویجاړېدو څخه خوندي او د ۵۰ جریبه ځمکې خړوبولو ته زمینه چمتو شوه.

د نوموړو پروژو چارې د یو. این. ډي. پي موسسې په مالي لګښت د پکتیکا ولایت د اوبو او انرژي ریاست تر څارنې لاندې پرمخ وړل کېدې.

## د کندهار ولایت د ارغستان ولسوالي په دوو کلیو کې د استنادي دیوالونو د پروژو چارې پیل شوې

د کندهار ولایت د ارغستان ولسوالي د ارغستان رود په مسیر کې د دوو کلیو لپاره د استنادي دیوالونو د پروژو چارې د کندهار د اوبو او انرژي ریاست لخوا د ملګرو ملتونو د پراختیایي دفتر په مالي لګښت سره پیل شوې.

نوموړې پروژې په ارغستان ولسوالي کې د ۱۸۰ متره اوږدوالي سره د قیاسي په کلي کې او د ۲۸۰ متره اوږدوالي سره د ادینې په کلي کې جوړېږي.

په دغو پروژو کې ګڼ شمېر ځايي خلکو ته د کار زمینه برابره شوې او په جوړېدو سره به يې د سېلابونو خطرونه کم شي او د نوموړې ولسوالی د قیاسي او ادینې کلیو د اوسېدونکو ستونزې هم هوارې شي.

## جلسه هماهنگی به منظور بررسی کارکردهای سال ۱۴۰۳ هـ ش و تهیه پلان سال ۱۴۰۴ هـ ش در وزارت آب و انرژی برگزار شد



این جلسه تحت رهبری محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی با حضور محترم مجیب الرحمن عمر آخندزاده معین آب، روئسای مرکزی و روئسای پنج حوزه عمومی دریایی برگزار گردید.

سرپرست وزارت آب و انرژی هدف از برگزاری این جلسه را بررسی فعالیت ها و کارکرد های وزارت در سال ۱۴۰۳ هـ ش، بررسی چگونگی مصرف بودجه انکشافی و تهیه یک پلان عمل برای فعالیت های این وزارت در سال ۱٤۰٤ هـ ش عنوان کرد.

سرپرست وزارت آب و انرژی دستاوردها و فعالیت های این وزارت به ویژه در راستای تطبیق پروژه های انکشافی آب و انرژی را به خوبی توصیف نموده تاکید کرد که نیاز است تا برای سال آینده یک پلان واضح، انسجام یافته و عملی برای پیشبُرد فعالیت های وزارت تهیه گردد تا امورات تطبیق پروژه ها در سال آینده مطابق آن به پیش برده شود.

## جلسه کمیته تخنیکی پروژه «تاپ» در معینت انرژی تدویر یافت

این جلسه تحت رهبری محترم الحاج عبدالهادی "یعقوب" معین انرژی با حضور محترم قاری محمد عبدالعزیز"عزیز" رئیس عمومی دفتر وزارت آب و انرژی روئسای سکتور انرژی وزارت و سایر اعضای کمیته از دیگر وزارت ها و ادارات ذیربط در تالار جلسات معینیت انرژی برگزار گردید.

در این جلسه طی یک پرزنتیشن توسط متخصصین ریاست برنامه های انرژی، معلومات همه جانبه در مورد پروژه «تاپ»، ارائه گردید.

پس از بررسی اسناد، پروپوزل ها و وضعیت پیشرفت کار پروژه متذکره پیرامون هماهنگی، انسجام امور و روی دست گرفتن اقدامات بعدی بحث و تبادل نظر صورت گرفته تصامیم لازم اتخاذ گردید.

قابل یاد آوری است که پروژه «تاپ» لین انتقالی ٥٠٠ کیلوولت برق از شهر ماری ترکمنستان الی کویته پاکستان را شامل می باشد، این لین از مسیر افغانستان انتقال داده می شود که ۷۰٥ کیلومتر را در خاک این کشور در بر می گیرد.برعلاوه فایده ترانزیتی انتقال این لین برق ؛ افغانستان می توانند ۳۰۰ میگاوات برق را نیز از لین متذکره اخذ نماید.

## په روان کال په پکتیا ولایت کې د نږدې ٤۰ میلیونه افغانیو په لګښت ۲۱ بېلابېلې پروژې پلې شوې دي

په ١٤٠٣لمریز کال کې د پکتیا ولایت په مرکز ګردیز، زرمت او روحاني بابا ولسوالیو کې د ۳۸ میلیونه، ۹۳۵زره او ۹۳۲ افغانیو په لګښت ۲۱ بېلابېلې پروژې چې پکې د سربندونو، کانالونو، حوضونو، کاریزونو او د څښاک اوبو ځاګانو جوړونه، بیارغونه او پاکاري شاملې دي، پلي شوې دي.

نوموړې پروژې د پکتیا ولایت د اوبو او انرژۍ ریاست تر څارنې لاندې د اف.اې. او، یونیسکو او یو.این. ډي. پي موسسو له لورې پلي شوې دي، چې پکې ګڼ شمېر کسانو ته د کار زمینه چمتو شوې وه.

## پروژه بازسازی ۳۰ دروازه فرعی و ۷ کیلو متر پاک‌کاری کانال عمومی چهار دره ولایت کندز با هزینه ٦٠٠ هزار افغانی به بهره برداری سپرده شد

پروژه بازسازی ۳۰ دروازه فرعی و ۷ کیلو متر پاک‌کاری کانال عمومی ولسوالی چهار دره ولایت کندز با هزینه ٦٠٠ هزار افغانی با حضور محترم مولوی عبدالحکیم حاجی حکمت، رئیس عمومی حوزوی پنج آمو، محترم انجنیر امین‌زی، مسئول موسسه دی.ای.آی و شماری دیگر از مسئولین به بهره برداری سپرده شد.

کانال مذکور با داشتن ٥٥ دروازه فرعی ظرفیت آبیاری ۱۲۰ هزار جریب زمین زراعتی را دارد.

کار پروژه متذکره با هزینه مالی موسسه دی.ای.آی تحت نظارت ریاست عمومی حوزوی پنج آمو به پیشبرده می‌شد، که در آن برای شمار زیادی از مردم زمینه کار مساعد شده بود.

## نشست دو جانبه میان وزارت آب و انرژی و هیئت کشور ترکمنستان در مورد پروژه بین المللی تاپ (TAP) و دیگر پروژه های مشترک دایر شد



این نشست با حضور الحاج ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی، الحاج ملا عبدالهادی یعقوب معین انرژی این وزارت، مراد آرتیکوف، رئیس دیپارتمنت پروژه بین المللی تاپ، خواجه عوضوف، سفیر ترکمنستان در افغانستان، شماری از روئسای این وزارت و شماری از مسؤلین کشور ترکمنستان در تالار جلسات مقام وزارت آب و انرژی برگزار گردید.

در این نشست سرپرست وزارت آب و انرژی از سابقه روابط نیک میان هردو کشور و همکاری های دوجانبه میان هر دو طرف ابراز قدردانی نموده به توسعه، تداوم و گسترش همکاری ها میان هردو طرف تاکید ورزید.

آقای منصور از پیشرفت پروژه لین انتقال برق ۵۰۰ کیلوولت ترکمنستان- افغانستان به خوبی یاد کرده همچنان با اشاره به اهمیت پروژه بین المللی تاپ (TAP) بر تسریع آغاز کار عملی آن تاکید ورزید. وی علاوه کرد که افغانستان برای تطبیق این پروژه آمادگی های لازم را داشته و از طرف های دیگر پروژه نیز انتظار دارد که هرچه زودتر با برگزاری جلسات هماهنگی و تخنیکی زمینه آغاز کار عملی این پروژه را فراهم سازند.

از سوی هم مراد آرتیکوف، رئیس دیپارتمنت پروژه بین المللی تاپ نیز از آمادگی همه جانبه کشور ترکمنستان برای تطبیق این پروژه خبرداده یادآور شد که برای پیشبُرد امور پروژه یاد شده؛ مسوده یک نقشه راه را نیز تهیه نموده است تا پس از تصویب و نهایی سازی گام های عملی مطابق آن برداشته شود.

قابل ذکر است که در این نشست در مورد سکرتریت پروژه تاپ که در افغانستان ایجادشده است هم بحث و تبادل صورت گرفته و مورد تایید هردو طرف قرار گرفت، همچنان توافق به عمل آمد که در آینده نزدیک تیم تخنیکی هر سه کشور( ترکمنستان، افغانستان و پاکستان) روی موضوع پروژه تاپ بحث و تبادل نظر خواهد کرد.

## په هېواد کې د انرژي د تولید او پراختیا په موخه ۳۷ پروژې د ۵۷۶۷ مېگاواټه برېښنا په تولیزې ورتیا په لاره اچول شوې دي

د اوبو انرژي وزارت د اوبو مدیریت په برخه کې د پام وړ کړنو د ترسره کولو برسېره، په هېواد کې د انرژي د تولید او پراختیا په برخه کې هم تاریخي گامونه پورته کړي او په دې برخه کې گڼې پروژې په بېلابېلو ولایتونو کې له بېلابېلو سرچنیو لکه د اوبو، لمر، ډبرو سکرو او باد څخه د انرژي د تولید پروژې شاملې دي، په لاره اچولې دي.

د دغو پروژو له ډلې څخه د کابل ولایت په نغلو کې د ۱۰ مېگاواټه لمریزې برېښنا یوه پروژه بشپړه او گټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

اوسمهال اووه پروژې د ۵۰۰ کیلو ولټ لېږد مزي د انرژي د لېږد نورو پروژو او پراختیایي سب ستېشنونه تر کار لاندې دي، چې په پلي کېدو سره به یې له ترکمنستان څخه د ۱۰۰۰ مېگاواټه برېښنا واردولو ته زمینه چمتو شي.

همدارنگه، له دغې ټولگې څخه د ۳ پروژو توافقنامې لاسلیک شوې او د نورو پروژو په هکله هم له پانگوالو سره د همـــکارۍ هوکړه لیکونه لاسلیک شوي دي.

د یادونې وړ ده، چې تر هوکړه لیک لاندې پروژو په ډله کې د لوگر ولایت د پل علم د لمریزې برېښنا د تولید پروژه د ۱۰۰ مېگاواټو په ورتیا، د غزني ولایت د لمریزې انرژي پروژه د ۱۵۰ مېگاواټو په ورتیا، د نغلو د لمریزې برېښنا د تولید پروژه د ۱۰۰ مېگاواټو په ورتیا، د کندهار ولایت د دهلې بند د څښاک اوبو د برابرولو، اوبولگولو او برېښنا د تولید پروژه د ۳۰ مېگاواټو په ورتیا، په بلخ ولایت کې د ډبرو سکرو له سر چینو څخه د ۱۰۰ مېگاواټه برېښنا په ورتیا او د ۲۵۰ مېگاواټو په ورتیا د لمریزې برېښنا پروژه د عوفي بهرام شرکت له لوري شاملې دي، چې چارې یې د هوکړه لیک په پراو کې په بنه توگه پرمخ تللې او په راتلونکي کې به یې د پلي کولو قرارداد هم لاسلیک شي .

د اکثرو دغو پروژو منظوري هم د امیر المومنین حفظه‌الله له لوري ورکړل شوې ده

# د اوبو او انرژي وزارت د رهبرۍ غونډه ترسره شوه



دغه ناسته د اوبو او انرژي سرپرست وزیر محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور تر رهبری لاندې د دغه وزارت د اوبو معین محترم مجیب الرحمن عمر آخندزاده، د انرژي معین محترم الحاج ملا عبدالهادي یعقوب، د اوبو او انرژي سکتورونو د عمومي رئیسانو او یو شمېر نورو مسؤلینو په شتون کې ترسره شوه. په دغه ناسته کې، د اوبو او انرژي بېلابېلو اداري او تخنیکي پروژو په ځانګړې توګه د اوبو ځلورو سترو بندونو لکه په بغلان ولایت کې د کېله ګي بند، په غزني ولایت کې د زردالو بند، په هرات ولایت کې د کادانک بند او په تخار ولایت کې د کېنته کوکچې بند په هکله بحث او د اندونو تبادله وشوه.

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر د ناستې په بهیر کې د پروژو پر کره څارنې باندې ټینګار وکړ او اړوندو مسؤلینو ته یې سپارښتنه وکړه، چې د پروژو د پلي کولو پر مهال دې ټول تخنیکي معیارونه په پوره پاملرنې سره په پام کې ونیسي.

ښاغلي منصور اړوندو مسؤلینو ته د چارو د چټکتیا، لا زیات غورهوالي او تنظیم په هکله اړینې سپارښتنې وکړې.

## معین آب وزارت آب و انرژی از جریان کار بند بخش آباد دیدار نمود

محترم مجیب الرحمن عمر آخندزاده معین آب وزارت آب و انرژی با همراهی مولوی سید عبدالسلام مستوفی آغا رئیس عمومی حوزه دریایی هریرود-مرغاب و ملا برهان الدین مینوال رئیس آب و انرژی فراه از جریان کار بند بخش آباد ولایت فراه دیدار نمودند.

آقای آخندزاده، با اشاره به مشکلات موجود انجینران بند مذکور اطمینان همکاری کامل داده و به مسئولین شرکت قراردادی پیرامون کیفیت بهتر و تسریع امور هدایات لازم را داد

## کار اعمار یک سربند و پاک‌کاری یک کانال در ولایت کندهار با هزینه نزدیک به دو میلیون افغانی آغاز گردید

کار اعمار یک سربند و پاک‌کاری یک کانال در قریه شفا ولسوالی دند ولایت کندهار با هزینه ۱ میلیون و ٤٥٥ هزارو ۸٥۳ افغانی آغاز گردید.

با تکمیل شدن کار این پروژه ضمن انتقال منظم آب در کانال مشکلات مردم قریه مذکور نیز حل خواهند شد.

در این پروژه که برای شماری زیادی از مردم زمینه کار مهیا شده کار آن در ظرف دو ماه تکمیل و به بهره برداری سپرده خواهد شد.

کار پروژه مذکور با هزینه مالی دفتر انکشافی سازمان ملل متحد تحت نظارت ریاست و انرژی ولایت کندهار به پیشبرده می‌شود.

## پکتیا ولایت کې د ۱۰ کاریزونو د بیارغونې او پا کاري چارې د څه باندې اووه میلیونه افغانیو په لګښت بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې

د پکتیا ولایت په زرمت او روحاني بابا ولسوالیو کې د ۱۰ کاریزونو د بیارغونې او پا کاري پروژې د ۷ میلیونه، ۲۰۲ زره او ۷۰۰ افغانیو په لګښت د پکتیا د اوبو او انرژي رئیس محترم مولوي محمد کریم فاتح، یو شمېر نورو سیمه ییزو مسؤلینو، قومي مشرانو او ځوانانو په شتون کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د دغو پروژو ګټې ته د سپارلو په مراسمو کې د پکتیا د اوبو او انرژي رئیس د هغوی په هکله بشپړ معلومات وړاندې کړل او زیاته یې کړه، چې د دغو کاریزونو د بیارغونې او پاکاري د چارو په بشپړېدو سره د اوبو لګولو وړتیا له ۱۰٦۰ جریبو څخه ۲۱۳۰ جریبو ته پورته او ٥۲۹۰ کورنیو ته د څښاک اوبه برابرې شوې.

په دغو پروژ کې چې زرګونو کسانو ته د کار زمینه چمتو شوې وه، چارې یې د یونېسکو اداري په مالي ملاتړ د پکتیا د اوبو او انرژي ریاست تر څارنې لاندې پرمخ وړل کېدې.

## تفاهمنامه همکاری به منظور اعمار دو بند ذخیروی در ولایت هرات به امضا رسید



محترم الحاج ملا عبداللطیف "منصور" سرپرست وزارت آب و انرژی تفاهمنامه همکاری به منظور سروی، دیزاین و تطبیق امور ساختمانی بند های ذخیروی « تذربید و واخل» واقع ولایت هرات را با محتـرم الحاج محمد حسین "عثـمانی" رئیـس شـرکت ساختمانی اسحاق سدیس به امضا رساند.

طبق این تفاهمنامه‌شرکت متذکره فعالیت های خویش را در زمینه سروی، دیزاین و تطبیق بندهای ذخیروی یادشده آغاز خواهد کرد و وزارت آب و انرژی مطابق مواد تفاهمنامه با شرکت متذکره همکاری خواهد نمود.

## کار پروژه اعمار کانال، سربند، دیوار گبیون و پلچک ها در ولایت کندهار به ارزش بیش از ۱۱ میلیون افغانی آغاز گردید

کار پاک کاری، اعمار سربند، دیوار گبیون کانال مندوزی در قریه مندوزی ولسوالی میوند بالای ولایت کندهار تحت نظارت ریاست آب و انرژی کندهار به کمک مالی مؤسسه اف، ای، او به ارزش ۱۱ میلیون ۶۹۲ هزار ۷۸۸ افغانی آغاز گردید.

در این پروژه اعمار ۷۵٤ متر کانال توسط پخته کاری، پاک کاری ۱۲۰۰ متر کانال، ۳ پلچک در بالای کانال، سربند ۸۵ متر، دروازه و ٤٥ متر دیوار گبیون شامل میباشد.

قابل یادآوری است که این کانال به هدف سهولت در رفت و آمد باشندگان محلی، جلوگیری از تخریب کانال، جلوگیری از ضایع شدن آب و آبیاری زمین های زراعتی اعمار می گردد و به تعداد زیادی از باشندگان محلی زمینه کار مساعد گردیده و کارهای آن در مدت ٥ ماه تکمیل خواهد شد.

## کندهار ولایت کې د یو استنادي دېوال او دوو پلچکونو د جوړولو چارې د څه باندې درې نیم میلیونه افغانیو په لګښت پیل شوې

د کندهار ولایت د میوند ولسوالي په ښامیر کلا کې د ۲۰۰ متره استنادي دېوال او دوو پلچکونو د جوړولو چارې د ۳،٦ میلیونه افغانیو په لګښت پیل شوې.

په دغه پروژه کې ګڼ شمېر خلکو ته د کار زمینه برابره شوې او چارې به یې د ۲ میاشتو په موده کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د نوموړې پروژې چارې د ملګرو ملتونو د پراختیایي دفتر په مالي لګښت د کندهار ولایت د اوبو او انرژۍ ریاست تر څارنې لاندې پرمخ وړل کېږي، چې د چارو په بشپړېدو سره به یې کرنیزې ځمکې او ملکیتونه د سیلاب له ګواښ څخه خوندي شي.

## در سال جاری ۱۷ پروژه مختلف در ولایت لوگر با هزینه نزدیک به ٦۳ میلیون افغانی تطبیق شده است

در سال ۱٤۰۳ خورشیدی ۱۷ پروژه مختلف در پل علم، مرکز ولایت لوگر و ولسوالی‌های محمد آغه، ازره، برکی برک و خروار ولایت لوگر با هزینه ٦۲ میلیون و ۳۲٤ هزارو ٦۰۰ افغانی که در آن حفظ و مراقبت دو بند بزرگ و اعمار سربندها، کانال‌ها، دیوارهای استنادی، حوض‌ها و کاریزها شامل می‌باشند، تطبیق گردیده است.

پروژه‌های مذکور با هزینه ۳٦ میلیون و ٦٦۹ هزارو ٦۰۰ افغانی از بودجه انکشافی ریاست آب و انرژی ولایت لوگر و با هزینه ۲٥ میلیون و ٦ صدو ٥٥ هزار افغانی از بودجه موسسات تطبیق شده است.

در پروژه‌های متذکره برای شماری زیادی از مردم زمینه کار مساعد شده بود.

## د یوه ایراني شرکت مسؤلینو د اوبو او انرژي له سرپرست وزیر سره په لیدنه کې د انرژي په پروژو کې پانګونې ته لېوالتیا څرګنده کړه



د اوبو او انرژي سرپرست وزیر محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور د نیروی برق دیبا شرکت له مسؤلینو سره وکتل او له بېلابېلو سرچینو څخه د انرژي د تولید په برخه کې د پانګونې په هکله بحث او د اندونو تبادله وکړه.

په دغه لیدنه کې، د نوموړي شرکت مسؤلینو وویل، لېواله دي چې د اوبو، ډېرو سکرو، ګاز او لمر له سرچینو څخه د انرژي د تولید پروژو په برخه کې پانګونه وکړي.

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر د دغه وزارت له لوري د اړینو همکاریو ډاډ ورکړ، او له هغوی څخه یې و غوښتل چې د وزارت له تخنیکي ټیم سره د پروژو د ټاکلو او د پانګونې د څرنګوالي په هکله همغږي وکړي.

شاغلي منصور زیاته کړه، چې د دواړو لورو د تخنیکي مسؤلینو ترمنځ تر همغږیو وروسته، د هوکړه لیک د لاسلیکولو او د عملي ګامونو د پلي کولو په برخه کې به وروستي اړین اقدامات ترسره شي.

## لغمان ولایت کې د لټر آباد کانال د سربند رغنیزې چارې د څه باندې ۹ میلیونه افغانیو په لګښت پیل شوې

د لغمان ولایت په دولت شاه ولسوالي کې د لټر آباد کانال د سربند رغنیزې چارې د ۹ میلیونه، ۳۶ زره او ۳۷۸ افغانیو په لګښت د لغمان د اوبو او انرژي رئیس محترم مولوي شیرجان راشدي او قومي مشرانو په شتون کې پیل شوې.

د نوموړي کانال سربند د ۲۰ متره اوږدوالي او ۱۱ متره سور په درلودلو سره د ۹۰ هکتاره کرنیزې ځمکې د خړوبولو وړتیا لري.

په دغه پروژه کې ګڼ شمېر کسانو ته د کار زمینه چمتو شوې او چارې به یې د درې میاشتو په موده کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د نوموړې پروژې چارې د ډبلیو. اف. پي سازمان په مالي لګښت د لغمان د اوبو او انرژي ریاست تر څارنې لاندې پرمخ وړل کېږي.

د یادونې وړ ده، چې نن د لغمان ولایت په قرغه یي ولسوالي کې د اوبو ذخیرو ۱۹ پروژو رغنیزې چارې هم د څه باندې ۴۹ میلیونه افغانیو په لګښت پیل شوې.

## د اوبو او انرژي وزارت د مالي او اداري عمومي ریاست نوی رئیس همکارانو ته ور وپېژندل شو

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور د یوې غونډې په ترڅ کې د دغه وزارت د یو شمېر رئیسانو او کارمندانو په شتون کې، محترم قاري نجیب الله مبارک د اوبو او انرژي وزارت د مالي او اداري عمومي رئیس په توګه کارمندانو ته ور وپېژاند.

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر د مالي او اداري د نوي عمومي رئیس د پېژندنې پر مهال له ټولو رئیسانو او کارمندانو څخه وغوښتل چې د خپلو مسؤلیتونو د ترسره کولو په برخه کې په رښتینې توګه هڅې وکړي او د چارو د ترسره کولو په برخه کې د اطاعت او شفقت اصولو ته لومړیتوب ورکړي.

د یادونې وړ ده، چې محترم قاري نجیب الله مبارک تر دې مخکې د اسلامي امارت په بېلابېلو برخو کې فعاله ونډه درلودلې او په هېواد کې د جهاد او اسلامي نظام د پیاوړتیا په بېلابېلو برخو کې ښې کارنامې لري.

## کار بازسازی پروژه انتقال لین ۵۰۰ کیلو ولت انرژی برق از دشت خواجه الوان الی سب استیشن ارغندی کابل ۷۳ درصد پیش رفته است

این پروژه که یکی از پروژه‌های مهم وزارت آب و انرژی می‌باشد، اکنون کار آن ۷۳ درصد پیش رفته و کار باقی‌مانده آن به سرعت جریان دارد و با تکمیل شدن کار آن به ۱۲ ولایت برق انتقال خواهد داد.

اکنون کار فوندیشن، نصب پایه‌ها و لین کشی پروژه مذکور به سرعت جریان دارد و مطابق زمان تعین شده کار آن تکمیل و به بهره برداری سپرده خواهد شد.

این پروژه که از دشت الوان پلخمری الی سب استیشن ارغندی کابل امتداد دارد، ۲۳۸ کیلو متر طول دارد و با تکمیل شدن کار آن به گونه منظم به ولایت‌های کابل، بغلان، پروان، میدان وردگ، غزنی، زابل، کندهار، ننگرهار، لغمان، لوگر، پکتیا و خوست برق انتقال خواهد داد.

## پروژه سب استیشن جدید بتخاک و لین انتقالی ۲۲۰ کیلو ولت از ارغندی الی بتخاک به ارزش مجموعی ۲۵,٤ میلیون دالر آمریکای افتتاح شد




مراسم افتتاح این پروژه ها با حضور الحاج ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی، الحاج امین الله عبید والی کابل، الحاج ملا عبدالهادی یعقوب معین انرژی، مهاجر فراهی معین نشراتی وزارت اطلاعات و فرهنگ، بزرگان امارت اسلامی، مشاورین و رویًسای وزارت آب و انرژی و جمعی زیادی از باشندگان محل در ساحه سب استیشن بتخاک تدویر یافت.

سرپرست وزارت آب و انرژی در هنگام افتتاح این پروژه به اهمیت آن اشاره نموده یادآور شد که این پروژه شامل مجموعه پروژه‌های مرتبط به لین انتقالی ۵۰۰ کیلوولت ترکمنستان ـ افغانستان بوده و زمینه جذب و توزیع بخش زیادی انرژی از این منبع را فراهم می نماید.

آقای منصور تاکید ورزید که وزارت آب و انرژی مسئولیت دو سکتور مهم و حیاتی را بعهده دار بوده و خوشبختانه در این راستا فعالیت های چشمگیری را به انجام رسانیده است.

در همین حال والی کابل اظهار داشت که از آمدن امارت اسلامی تا اکنون خوشبختانه در مسیر آبادی و انکشاف به ویژه در زمینه تامین برق شهروندان کابل دستاورد های عظیمی رقم خورده اند.

از سوی هم داکتر فاروق اعظم مشاور مقام وزارت آب وانرژی برق را از جمله نیازهای اساسی جامعه امروز خوانده یاد آور شد که خوش بختانه در این راستا گام های ملموس و ارزشمندی از سوی وزارت آب و انرژی برداشته شده است.

در ادامه مهاجر فراهی معین وزارت اطلاعات و فرهنگ یادآور شد که امارت اسلامی همانگونه که برای آزادی کشور از هیچگونه فداکاری دریغ ننمودند اکنون در مسیر آبادی و انکشاف کشور نیز شبانه روز تلاش خواهند ورزید.

همچنان حاجی پهلوان رئیس شرکت عوفی بهرام با ابراز خوشحالی از انجام سرمایه گذاری روی این پروژه تاکید کرد که شرکت متذکره به تداوم گسترش سرمایه گذاری های خویش روی پروژه های انرژی متعهد می باشد.

قابل یادآوری است که این پروژه ازسوی وزارت آب و انرژی با سرمایه گذاری خصوصی شرکت عوفی بهرام تطبیق می گردد.

با تطبیق پروژه سب استیشن جدید بتخاک به ظرفیت مجموعی۱۸۹میگاولت امپیر و لین انتقالی ۲۲۰ کیلو ولت از سب استیشن ارغندی الی سب استیشن جدید بتخاک، بخش عظیمی از انرژی لین ۵۰۰ کیلوولت ترکمنستان جذب و مشکلات برق مردم کابل تا حدود زیادی مرفوع خواهد شد.

د بتخاک نوی سب سټیشن او له ارغندۍ څخه تر بتخاک پورې د ۲۲۰ کیلو ولټ لېږد مزي پروژه د ۲۵.٤ میلیونه آمریکایي ډالرو په ټولیز ارزښت پرانیستل شوه

## د خوست ولایت له یو شمېر نیمه کاره پروژو څخه څارنه ترسره شوه

د اوبو او انرژي وزارت پلاوي د خوست ولایت د اوبو او انرژي رئیس مولوي عبدالقیوم ثابت په همکاري د خوست ولایت له ۲۱ نیمه کاره پروژو څخه څارنه ترسره کړه.

همدارنګه د اوبو او انرژي پلاوي د خوست ولایت د اوبو او انرژي ریاست د کارمندانو د ورتیا لوړوني په هکله له ښاغلي ثابت سره بحث او د اندونو تبادله وکړه.

ښاغلي ثابت د اوبو او انرژي وزارت پلاوي ته د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ او زیاته یې کړه چې پدې سره به د دغه ریاست د کارمندانو په وړتیاوو کې مثبت بدلونونه رامنځته شي.

## مطالعات نهایی بند باغدره توسط مؤسسه ام، جم/ ام، سی، سی در ولایت کاپیسا آغاز شد

هیئت تخنیکی مؤسسه مذکور به رهبری آقای کوین با معاونین و تیم تخنیکی همراه شان مطالعات تخنیکی را بر روی دریای پنجشیر آغاز کردند.

این بررسی با همکاری انجنیر کاوه خروش رئیس آب و انرژی ولایت کاپیسا و تیم تخنیکی وزارت آب و انرژی از منطقه نو قلع هروکی تا به تپه احمد بیک و مسیر اسکم دره ادامه خواهد داشت و هئیت متخصص کمپنی مذکور مطالعات هایدرولوجی را در دریای پنجشیر و ولایت های کاپیسا و پروان ادامه خواهد دادند.

## حفر چاه‌های تحقیقاتی در ۹ ولسوالی ولایت کندهار با هزینه ۲۷ میلیون افغانی آغاز شد

حفر چاه‌های تحقیقاتی در ولسوالی‌های ژری، میوند، دامان، ارغنداب، تخته پل، سپین بولدک، پنجوایی و ارغستان ولایت کندهار با هزینه ۲۷ میلیون افغانی با حضور محترم ملا سید محمد شرافت، رئیس آب و انرژی ولایت کندهار آغاز گردید.

این چاه‌های تحقیقاتی جهت معلوم کردن سطح و کیفیت آب با هزینه مالی یونیسیف تحت نظارت ریاست آب و انرژی ولایت کندهار حفر می‌شوند.

## نخستین جلسه کمیته رهبری پروژه تاپ (TAP) تدویر یافت



این جلسه تحت رهبری محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی، با حضور محترم الحاج ملا عبدالهادی یعقوب معین انرژی، مولوی احمدالله زاهد معین وزارت صنعت و تجارت، شماری دیگر از روئسا و نمایندگان وزارت های خارجه، مالیه، اقتصاد و اداره شرکت های امارتی در تالار جلسات مقام رهبری وزارت تدویر یافت.

در آغاز این جلسه سرپرست وزارت آب و انرژی از مزیت های ترانزیتی و اقتصادی پروژه تاپ (TAP) یاد نموده تاکید کرد که این پروژه برای هرسه کشور ( ترکمنستان- افغانستان- پاکستان) از اهمیت خاصی برخوردار می باشد.

در ادامه قاری محمد عبدالعزیز عزیز رئیس عمومی دفتر در مورد فیصله های جلسات کمیته تخنیکی این پروژه توضیحات داده پیرامون جوانب مختلف پروژه از قبیل تاریخچه، فواید اقتصادی و سیاسی، مسیر انتقال، و سایر موضوعات مرتبط به چگونگی تطبیق آن به صورت مفصل صحبت نمود.

همچنان در جریان جلسه لایحه وظایف کمیته های رهبری و تخنیکی و مسوده نقشه راه پروژه یاد شده که از سوی کشور ترکمنستان فرستاده شده بود جهت نهایی سازی مورد بررسی قرار گرفت.

قابل یاد آوری است که پروژه «تاپ» یکی از پروژه های بزرگ انتقال برق میان کشور های ترکمنستان - افغانستان و پاکستان می باشد، با تطبیق این پروژه برعلاوه فایده ترانزیتی انتقال لین برق ؛ افغانستان می توانند ۳۰۰ میگاوات برق را نیز از لین متذکره اخذ نماید.

## د ټاپ (TAP) پروژې د تخنیکي کمېټې درېیمه ناسته په انرژي معینیت کې ترسره شوه

به سلسله جلسات قبلی این جلسه نیز تحت رهبری الحاج ملا عبدالهادی یعقوب معین انرژی وزارت آب و انرژی، با حضور قاری محمد عبدالعزیز"عزیز" رئیس عمومی دفتر، شماری از روئسای این وزارت و سایر اعضای کیمته متذکره از وزارتخانه ها و دیگر نهادهای ذیربط در تالار جلسات معینیت انرژی برگزار گردید.

رئیس عمومی دفتر وزارت آب و انرژی در هنگام آغاز جلسه به اهمیت موقعیت جغرافیایی و ترانزیتی کشور اشاره نموده با توجه به اهمیت حیاتی این پروژه به تنظیم و انسجام امور تاکید ورزید.

در جریان جلسه مسوده نقشه راه پروژه تاپ (TAP) که از سوی کشور ترکمنستان تهیه و فرستاده شده بود مورد بررسی و ارزیابی قرار گرفت تا پس از ارزیابی به کمیته رهبری پیشنهاد گردد.

همچنان در این جلسه پیرامون نهایی سازی لایحه وظایف کمیته های رهبری و تخنیکی پروژه تاپ نیز بحث به عمل آمد تا تصامیم لازم اتخاذ گردد

## د اوبو معینیت اونیزه تخنیکي ناسته ترسره شوه

دغه ناسته د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین محترم مجیب الرحمن عمر آخندزاده تر رهبري لاندې د اوبو سکتور د رئیسانو، سلاکارانو او یو شمېر تخنیکي مسؤلینو په شتون کې ترسره شوه.

د غونډې په دوام کې اړوندو رئیسانو یادونه وکړه چې ټول قراردادي شرکتونه باید د اصولو او قوانینو سره سم پروژې پلي کړي، د هرې پروژې سروې او ډیزاین هم باید په اصولي توګه ترسره شي او همدارنګه د چکډمونو د تخنیکي معیارونو په تړاو هم بحث او د اندونو تبادله ترسره شوه.

د اوبو محترم معین د نوموړو موضوعاتو په هکله د رئیسانو د معلوماتو او راپورونو تر ارزولو وروسته، اړین تصمیمونه ونیول او اړوندو مسؤلیو ته یې د چارو د ښه ترسره کولو او چټکتیا په موخه اړینې سپارښتنې وکړې.

## کار اعمار سربند، دروازه و دیوار استنادی در ولایت کندهار به ارزش بیش از یک میلیون افغانی آغاز گردید

در قریهٔ کلانتر ولسوالی دند ولایت کندهار کار اعمار یک سربند به طول ۵۰ متر، دروازه کانال مربوطه، پاک کاری کانال به اندازه ۲۰ متر و ۵٤ متر دیوار استنادی تحت نظارت ریاست آب و انرژی ولایت کندهار به کمک مالی دفتر انکشافی ملل متحد به ارزش ۱ میلیون ٤٤۵ هزار ۷۸۰ اعشاریه ٤۰ افغانی آغاز گردید.

پروژه متذکره به هدف آبیاری زمین های زراعتی و بالا کردن آب از رود به کانال اعمار میگردد که برای تعدادی از باشنده گان محلی نیز زمینه کار را مساعد کرده است و کارهای آن در مدت ۲ ماه تکمیل خواهد شد.

## لوګر ولایت کې د سرخاب بند د ساتنې او پاملرنې پروژه او د دوو چکډمونو پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې



۱د دغو پروژو ګټې ته د سپارلو مراسم د اوبو او انرژي سرپرست وزیر محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور، د لوګر والي محترم شیخ ضیا الرحمن مدني، سیمه ایزو مسؤلینو د وزارت د یو شمېر رئیسانو او د سیمې دګڼ شمېر اوسېدونکو په شتون کې ترسره شوه.

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر په دغه مراسمو کې د سرخاب بند ارزښت د محمد آغې ولسوالي د خلکو لپاره حیاتي و باله او د دغه بند د ساتنې او پاملرنې پروژې بشپړېدل یو ارزښتناکه لاسته راوړنه وبلله.

ښاغلي منصور ټینګار وکړ، چې د اسلامي امارت مسؤلین د هېواد د آبادۍ لپاره شپه او ورځ هڅې کوي او په دغه درې کلونو کې یې د هېواد د آبادۍ او پراختیا په موخه په بېلابېلو برخو کې ډېرې پروژې پلي کړې دي.

په ورته مهال، د لوګر والي د دغو پروژو پلي کول د کرنې د پراختیا او د خلکو د اقتصاد په برخه کې اغېزناک وبلل او له خلکو څخه یې وغوښتل چې د دغو د ساتنې په برخه کې همکار و اوسي.

همدغه راز، د اوبو او انرژي وزارت یو شمېر رئیسانو او د لوګر ولایت سیمه ایزو مسؤلینو د پروژو د کیفیت او ارزښت په هکله معلومات وړاندې کړل او د اوبو د مدیریت په برخه کې د دغو پروژو پلي کول یو مثبت ګام وباله.

د یادونې وړ ده، چې د سرخاب بند د ساتنې او پاملرنې پروژه د ۱۱ میلیونه افغانیو په لګښت د اوبو او انرژي وزارت له لورې پلي شوې ده.

دغه بند د ۹ میلیون متره مکعب اوبو د زېرمه کولو وړتیا لري او ۳ زره هکتاره کرنیزه ځمکه خړوبوي، چې ۹زره کورنۍ ورڅخه په مستقیم او غیر مستقیم ډول ګټه پورته کوي.

همدارنګه، نوموړي دوه چکډمونه د پنځه میلیونه افغانیو په ټولیز لګښت پلي شوي چې په ټوله کې د ۱٦ زره متره مکعب اوبو د زېرمه کولو وړتیا لري.

### کار اعمار دو دیوار استنادی در ولایت کنر با هزینه نزدیک به یازده میلیون افغانی به زودی آغاز می‌گردد

کار اعمار دو دیوار استنادی در مناطق شامادم و حکیم آباد ولسوالی‌های ناری و غازی آباد ولایت کنر با هزینه ۱۰ میلیون و ٦ صدو ۵۲هزارو ۸ صدو ۳٦ افغانی به زودی آغاز می‌گردد.

دیوارهای استنادی مذکور ۳۰۰ متر طول دارند که کار آن تحت نظارت ریاست آب و انرژی ولایت کنر به پیشبرده می‌شود.

ساحه‌های دیوارهای استنادی متذکره به شرکت‌های قراردادی آنها سپرده شد و به زودی کار عملی آنها آغاز می‌شود.

### کندهار ولایت کې د یوه چکډم جوړولو پروژې چارې د څه باندې دوه میلیونه افغانیو په لګښت پیل شوې

د کندهار ولایت د تخته پل ولسوالي د برغني په کلي کې د یوه چکډم جوړولو پروژې چارې د ۲ میلیونه، ۱۵۴ زره او ۱۰۱ افغانیو په لګښت د کندهار ولایت د اوبو او انرژي رئیس محترم ملا سید محمد شرافت، علماوو او قومي مشرانو په شتون کې پیل شوې.

ښاغلي شرافت د نوموړي چکډم د چارو په پرانیست غونډه کې د دغه په هکله اړین معلومات له ګډونوالو سره شریک کړل او د اوبو د غوره مدیریت په هکله یې خبرې وکړې.

دغه چکډم د ۱۰۷ متره په اوږدوالي او ٤.۵ متره لوړوالي سره د افغانستان اسلامي امارت په مالي لګښت د کندهار ولایت د اوبو او انرژي ریاست تر څارنې لاندې جوړیږي، چې د چارو په بشپړېدو سره به یې ۷۰۰۰ متره مکعب اوبه زېرمه شي.

په دغه پروژه کې یو شمېر خلکو ته د کار زمینه چمتو شوې او چارې به یې د درې میاشتو په موده کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

بسم الله الرحمن الرحیم

# د نیالګیو کښینولو اهمیت

لیکونکی: داکتر فاروق "اعظم"

ژمی تیر سو او دا دی د پسرلي په درشل کې یو، مځکه نوی ژوند او بزګران نوي کارونه پیلوي. پسرلی د نیالګیو کښینولو موسم دی. حکومت او خلک باید د نیالګیو کښینولو ته ډېره توجه وکړي. د نیالګي کښینول نه یوازې د چاپېریال ساتنې لپاره اړین دي، بلکې د ځمکې د تودوخې کمولو او د اوبو د کچې لوړولو لپاره هم ګټور دي. د نیالګیو کښینول د هوا د ککړتیا په کمولو، د اکسیجن د تولید، او د ککړو ګازونو په جذبولو کې مرسته کوي، چې دا ټول د یوې پاکې او صحتمندې هوا لپاره اړین دي. د نیالګیو کښینولو ځینې مهمې ګټې دادي:

**د هوا کیفیت ښه کول:** نباتات او ونې د فوتوسنتیز عملیې له لارې کاربن ډای اکساید له هوا جذبوي او اکسیجن تولیدوي. اکسیجن د ژوند لپاره ډېر ضرور دی. د نیالګیو په کښینولو سره د هوا اکسیجن اندازه ډېریږي، د هوا په پاک ساتلو کې مرسته کوي، چې د انسانانو او حیواناتو د تنفس لپاره مهم دی. نباتات د هوا او غازاتو توازن ساتي او د اقلیمي بدلون په مخنیوي کې مرسته کوي.

**د هوا د ککړتیا مخنیوی:** د نباتاتو پاڼې او ښاخونه په هوا کې مضر ذرات لکه دوړې، سګرټ یا نور کیمیاوي مواد جذبوي او پاکوي یې، په دې ډول د هوا کیفیت ښه کیږي.

**د اوبو د تبخیر کنټرول.** نباتات او ونې اوبه تبخیروي او په هوا کې د رطوبت کچه زیاتوي. دا کار د حرارت د کموالي سره مرسته کوي، ځکه چې د رطوبت زیاتوالی د هوا د تودوخې د لوړولو مخه نیسي.

**د اوزون د طبقې ساتنه.** نباتات د هوا ککړونکي غازونه لکه نایتروجن اکساید او سلفر ډای اکساید چې د اوزون طبقه تخریبوي، جذبوي او په دې ډول هوا صافه او د اوزون طبقه سالمه ساتي.

**د ځمکې د تودوخې کمول:** ونې او نباتات د هوا د تودوخې په کمولو کې مهم رول لري. په ځانګړې توګه په ښارونو کې، چیرې چې د تودوخې کچه لوړه ده. د نیالګیو کښینول د تودوخې د کمولو لپاره غوره لاره ده

**د اوبو ساتنه:** ونې او نباتات په مځکه کې د اوبو په ساتلو کې مهم رول لوبوي. نباتات او ونې د ځمکې د لاندې اوبو جذبولو لپاره خاصې ریښې لري چې د اوبو ذخیره کولو کې مرسته کوي. دا ریښې نه یوازې د اوبو د جذبولو کار کوي، بلکې د اوبو د کموالي په وخت کې دا ذخیره سوې اوبه نباتاتو ته ورکوي چې د مځکې د وچوالي مخه نیسي

**د مځکې د خاورې ساتنه:** د نیالګیو کښینول د خاورې په ټینګولو کې مرسته کوي، خصوصاً په هغو سیمو کې چې د بارانونو یا د بادونو له امله خاوره سسته کیږي.

**د ځنګلي حیواناتو پایښت:** نیالګي یا ونې د ځنګلي حیواناتو د ژوند لپاره پناه ځای او د خوړو سرچینه برابروي. دا د حیواناتو او حشراتو د بقاء او ډېرېدو لپاره مهم دي.

**ذهني او فزیکي ګټې:** د نیالګیو کښینول انسانانو ته هم ګټور دی. د دې کار له لارې انسانانو ته تفریح ځایونه ډېریږي چې د روحي سکون او د فزیکي فعالیت د ودې لپاره مهم دی.

اسلام چاپیریال ساتنې ته ډېره توجه کړې ده. په قرآنکریم کې نباتات او د هغوی د اهمیت په اړه ګڼ ایاتونه سته چې نباتاتو او د هغوی ارزښت او اهمیت ته اشاره کوي، د هغوی د تولید او انسانانو ته د ګټو په اړه خبرې کوي. نباتات نه یوازې د انسانانو د اړتیاوو پوره کولو لپاره مهم دي، بلکې په قرآنکریم کې د الله عزوجل د نعمتونو په توګه یاد سوي دي. د نباتاتو او چاپیریال ساتنې په برخه کې ډېر آیاتونه سته چې یو څو یې دا دي:

«وَٱللَّهُ ٱلَّذِى ۝ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَاءِ مَاءً ۝ فَأَحْيَا بِهِ ٱلْأَرْضَ ۝ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَـَٔايَٰتٍ ۝ لِّقَوْمٍ ۝ يَسْمَعُونَ – الله ﷻ هغه ذات دی، چې اوبه له پاسه راتویوي او په هغه مځکه ژوندی کوي. یقیناً په دغه کې د هغه ولس لپاره چې غوږ نیسي لویې نښې دي - الروم: ۳۷». یا فرمایي:

«وَٱللَّهُ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَحْيَا بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَآ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّقَوْمٍ يَسْمَعُونَ»«النحل: ۶۵»

او الله ﷻ له اسمانه اوبه ورولې، چې په دې سره یې ځمکه تر خپلې مړاوېدو وروسته بیا ژوندۍ کړه، بیشکه په دې اوربنت او توکېدنه کې د توحید، ربوبیت او خدایي قدرت منونکو خلکو لپاره یوه نښه ده ، چې اوري یې

« وَفَجَّرْنَا ٱلْأَرْضَ عُيُونًا فَٱلْتَقَى ٱلْمَآءُ عَلَىٰٓ أَمْرٍ قَدْ قُدِرَ - او موږ له مځکې د اوبو چینې راوایستې، بیا دغه اوبه (د اسمان د اوبو سره په یوه معقوله طریقه) د ضرورت په اندازه سره یوځای سوې - قاف: ۹».

زه ګران وطنوال هڅوم چې زموږ او زموږ د اولادونو د روغتیا او د یوه پاک چاپیریال د درلودلو په منظور، په اوسني پسرلي کې هم خپله نیالګي کښینوي او هم د حکومت د مختلفو ادارو سره چې د نیالګیو کښینولو کار کوي، د زړه له کومې همکاري وکړي.

والسلام علیکم و رحمة الله و برکاته

# د پوله تیرېدونکو اوبو پر معاهداتو او حقوقي تنظیماتو د اقلیمی اغېزو ارزونه
# « د هلمند سیندیزې حوزې د قضیې مطالعه»

لیکونکی: انجنیر برکت الله "اریوبی"

**لنډیز:** په نړۍ واله کچه اقلیمي تغییراتو د خوړو اوبو په برخه کې بېسارې ستونزې او ننګونې رامنځته کړې او لا هم د رامنځته کېدو په حال کې دي چې دا چاره د اوبو کیفیت، کمیت، د اوبو عملیاتي کولو سیستمونه او د اوبو حکومتولي تطابق ننګولی شي. هېوادونه هڅه کوي د نړۍوالو پوله تېرېدونکو سیندیزو حوزو پر سر تړونونه او نور حقوقي تنظیمات رامنځته کړي. مطالعات ښیي چې تر اوسه نیمایي پوله تیربیدونکي سیندونه حقوقي تنظیمات او معاهدات نه لري او هغه یې چې لري؛ ډیری داسې تړونونه او تنظیمات دي چې د اقلیمي تغییراتو سره د سازګارۍ په ځانګړې توګه د سیلاب او وچکالیو د وضعیت او شرایئطو سره د تطابق مؤثر میکانیزم نه لري. اوس پوښتنه داده چې دا تغییرات څه ډول د پوله تېرېدونکو سیندیزو حوزو حقوقي تنظیمات ننګوي په ځانګړې توګه د هلمند سیند تړون په کومه کچه د اقلیمي تغییراتو سره د تطابق وړتیا لري؟ په دې څېړنه کې له درېیو بیلابیلو جغرافیایې، هایدرولوژیکي او هایدرو پولیتکي وضعیت درلودونکو سیندونو لکه کلوراډو، ګنګا او نیل سیندیزې حوزې د بېلګې په توګه څېړل شوې چې پایلې یې ښیي د ډیرو تعاملاتو او کړلېچونو وروسته تر اوسه هم نه دي توانیدلي په کافي او مؤثره توګه د اقلیمي تغییراتو سره په سمون بریالي موډلونه وړاندې کړي. په نړۍ واله کچه د پوله تېرېدونکو اوبو پر سر له اقلیمي تغییراتو سره د شته تنظیماتو او معاهداتو تطابق او مؤثرې ځواب وینې لپاره اړتیا ده چې د اوبو تخصیص انعطاف منونکي ستراتیژۍ رامنځته شي، د فوق العاده وضعیت لکه سیلاب او وچکالۍ لپاره اړین موارد په تنظیماتو کې ځای پرځای شي، په معاهداتو او حقوقي تنظیماتو کې د تغییر او اصلاح موارد اضافه شي او د پوله تېرېدونکو اوبو ګډ او مؤثر مدیریت یادونه پکې وشي. همداراز سره له دې چې د هلمند سیندیزې حوزې پر سر د افغانستان او ایران ترمنځ د ۱۹۷۳م یا ۱۳۵۱ هـ ل تړون په داسې وخت کې امضاء شوی چې د ژوند چاپیریالي مسائل او اقلیمي بدلون موضوع دومره جدي نه وه لېکن بیا هم په دې تړون کې د اقلیمي بدلون په اړه احکام ذکر شوي دي. د اوبو کمښت د تناسب له مخې د ایراني لوري حقابه کمېږي او د زیادښت په صورت کې هماغه رقم تشخیص شوی، د وچکالۍ موارد پکې ذکر شوي او ویل شوي چې د فوق العاده وضعیت په صورت کې به د طرفینو ګډ کمیساران حل لار لټوي. سره له دې چې په تړون کې د اصلاح او تغییر پروسیجر یادونه نه ده شوې لېکن ځینې موارد شته چې تغییراتو ته لار پرانیزي او په لویه کې د عامو بین المللي حقوقو په چوکاټ کې اصلاح کېدای شي. همداراز د اوبو کیفیت په اړه هم د افغانستان مسؤلیت یادونه شوې ده او ورسره د سیلابونو مدیریت په اړه په صریحه توګه څه نه دي ویل شوې لېکن طرفین د عامو بین المللي حقوقو په چوکاټ کې ځینې مسؤلیتونه لري چې باید ترسره یې کړي.

**بنسټیز مفاهیم:** د هلمند سیند د اوبو تړون، اقلیمي بدلون، بین المللي حقوق، حقوقي تنظیمات، معاهدات.

**مقدمه:** څېړنې ښیي چې اقلیمي تغییرات به د نړۍ ډېرۍ سیندیزې حوزې په راتلونکو لسیزو کې لا نورې وځپي او ممکن د ډیرو سیلابونو او وچکالیو سره مخ شي. د بین المللي اوبو څخه د ګټه اخیستونکو رژیمونو لپاره د اقلیمي تغییراتو سره سازګاري په څو دلایلو اړینه ده. لومړۍ دا چې احتمالي اقلیمي تغییرات ممکن په اساسي او ډراماتیکه توګه د ژورو بدلونونو سبب شي لیکن په جغرافیایې توګه ممکن په غیرمتناسبه توګه اغیزې رامنځته کړي. دا تغییرات ممکن مثبت او یا منفي وي چې د سیندیزو حوزو په وضعیت او موقعیت پورې اړه لري. نو ځکه په دې اړه عکس العمل هم باید محلي او د سیندیزو حوزو وضعیت ته په کتو وي نه دا چې په بین المللي کچه واحد میکانیزم شتون ولري. دویم دا چې دا تغییرات چې سر له اوسه د واقع کېدو په حال کې وي، ممکن د سازګارۍ او اقلیمي تغییراتو اغېزو کمولو څخه د مخه رامنځته شي که چیري د اقلیمي تغییراتو اغیزې کمې شي نو ممکن دا موارد به نور هم مؤثر شي. دریيم دا چې د پوله تېرېدونکو اوبو میکانیزمونه د اقلیمي تغییراتو سره د سازګارۍ لپاره پوتنشیل لري او د سازګارۍ لګښت کم دی نسبت دې ته چې په کلي توګه شین کوریز ګازونه پرېښودل شي. څلورم دا چې شته ایکوسیستم د ځینو ابعادو له اړخه د اوږدمهال لپاره ممکن د فشار زغملو توانایې ولري او د نورمال حالت رامنځته کولو لپاره تر اوسه هم یو ښه انتخاب دی.

په نړۍ کې شاه وخوا ۲۷۶ پوله تیریدونکې سیندیزې حوزې شتون لري چې د ډیرو کمو هغو یې حقوقي چوکاټ او معاهدات تنظیم شوي او د ځینو ارزونو له مخې دوه پر درې برخه یې حاکم حقوقي چوکاټ نه لري. د ملګرو ملتونو د راپور د وروستیو ارزونو له مخې په نړۍ کې یوازې ۲۸ سلنه پوله تېرېدونکو سیندونو اړوند تړونونه چې په کلي توګه عملي

دي د سیلابونو او وچکالیو او همداراز د اقلیمي تغییراتو مسائل پکې له پامه غورځول شوي دي.[۱]

په دې ځېرنه کې مونږ هڅه کوو لومړی په پوله تېرېدونکو سیندیزو حوزو باندې د اقلیمي تغییراتو احتمالي اغیزې و ارزوو چې اړوند ګډ یا شریک هیوادونه به له کومو ستونزو ننګونو سره مخ کړي او دا تغییرات څه دي، همداراز په بین المللي کچه د اقلیمي تغییراتو سره په پوله تېرېدونکو سیندیزو حوزو کې د تطابق کوم موډلونه شتون لري او مؤثریت یې څه ډول دی. همداراز هڅه شوې چې په نړۍ واله کچه د هېوادونو تعاملات او رویې وڅېړو چې په بیلابیلو ګډو سیندیزو حوزو کې د اقلیمي تغییراتو سره د تطابق لپاره کومو رویو څخه کار اخیستل شوی ، دلته درې بیلابیلې حوزې چې د بیلو موقعیتونو سره بیلابیل جغرافیایی، سیاسي، اقتصادي او اجتماعي شرایط لري انتخاب شوي دي. په آسیا کې د ګنګا سیند په افریقا کې د نیل سیند او په امریکا لویه وچه کې د کلوراډو سیند رویې څېړل کېږي.

همداراز په وروستی برخه کې د هلمند سیند په اړه د افغانستان او ایران ترمنځ د ترون ارزونه شوې چې څنګه او په کومه کچه د اقلیمي تغییراتو سره د تطابق ورتیا لري او په دې موخه لازم وړاندیزونه شوي دي.[۲]

## په بین‌المللي سیندونو د اقلیمي تغییراتو احتمالي اغېزې

تمه ده چې په راتلونکو لسیزو کې به د ځمکې تودوخې کچه په بېساري توګه لوړه شي او دا ډول تغییرات په حقیقت کې ډیر بې ثباته دي. پوهان په دې باور دي چې د تودوخې تودوخې درجې لوړېدو سره به د ځمکې بیلابیلې برخې په مختلفو بڼو اغیزمنې شي لېکن دوی په کره توګه د دې وړاندوینه نه شي کولای چې څنګه به د ځمکې مشخصې سیمې اغیزمنې شي.[۳] مختلفې څېړنې او هایدرلوژیکي موډلونه ښیي چې د تودوخې درجې په زیاتوالي سره به د ځمکې په پورتني شمالي طول البلد په ژمي کې واقع شي. د تودوخې درجې بدلون به ځینې مشخصې پایلې له ځان سره ولري. د منځنی او شمالي طول البلد لپاره ګرمه هوا به د دې سبب شي چې په وخت مخکې واوره وېلې شي او د پسرلي جریانات له وخته مخکې راشي. همداراز د تودوخې درجه به د دې سبب هم شي چې ایرکندیشن او برېښنا پکو ته اړتیا ډېره شي چې دا چاره به انرژی په ځانګړې توګه برېښنا ته تقاضا لا ډېره کړي. همداراز د تودوخې درجې زیاتوالی او تغییر په ځانګړو سیمو کې د نباتاتو او محصولاتو پر پراختیا هم اغیز ولري ځکه چې د اوبو اړتیا وخت او مقدار به یې تغیر شي.[٤] اقلیمي تغییرات به همداراز په اورښت کې د تغییر سبب شي. ځینې سیمې به د نن په نسبت لږ اورښت ولري او ځینې به ډېر. سربېره پر دې د اورښت موسم به هم تغییر وومومي. که چیرې د اورښت موسم تغیریدو کچه لوړه او اساسي وي نو ممکن د اکوسیستم، زراعتي محصولاتو او نورو بشري فعالیتونو لپاره وبجاړونکې پایلې ولري. په اورښت او بنه کې یې تغییر به په مستقیمه توګه د سیندونو جریان اغیزمن کړي. د سیندونو پورتنیو برخو کې به جریان ډیر شي چې بنکته خوا به د سیلابونو رامنځته کېدو لامل شي. د اوبو اوسني ذخیروي ساختمانونه او د سیلاب کنټرول بندونه به د اضافي اوبو ذخیره کولو وړتیا ونه لري. د اورښت کمښت به شته ستونزې لا پسي ډېرې کړي. د کښتی چلونې سیندونه به اغیزمن شي او د بدیلو لارو پیدا کول به هم په اقتصادي لحاظ ګران کار وي. جهیلونه او د اکوسیستم نورې برخې به تغییر مومي او د کبانو او اوبیز ژوو ژوند به له خطر سره مخ کېږي.

همداراز د سیندونو جریان تغییر به د اوبو پر کیفیت اغیز وکړي. په سیندونو کې د جریان زیاتوالی به د دې سبب شي چې په اوبو کې ککړونکي مواد ډیر شي، لاندېني جهیلونه او ساختمانونه به د اوبو کیفیت له اړخ زیانمن شي ځکه چې هلته به کافي ککړونکي مواد راجمع شي. د بایو سفیر تغییر په وجه به د سمندرونو او سیندونو اکوسیستم لا زیانمن شي. د نړۍ بیولوژیکي سیستم ترکیب او خپربدل په قوي توګه له اقلیمي تغییراتو څخه اغیزمنیږي. ډیری نباتات او حیوانات به د چټکو تغییراتو سره د سازګاری په برخه کې له ننګونو سره مخ وي.[٥] د مثال په توګه د ونو ځینې بنې د اقلیمي تغییراتو سره ډیرې حساسې دي او د ځنګلاتو د ورکېدو سبب کېدای شي. د ځنګلاتو له لاسه ورکول او د سیندونو جریان زیاتیدل د خاورې د فرسایش(خرابیدو) سبب کېدای شي. د سیندونو جریان تغییر او تبدیل د نباتاتو او د ژوو ځینو بنو هبتات له منځه یوسي. د

---

[1] Workshop: Transboundary water governance in Arab world, by Emilie broek. https://www.youtube.com/watch?v=k_ppazsfZPY
[2] United nations water page in linked in, 2024/1/11 http://buff.ly/4gU18kp
[3] Smith, how it might be: water resources, 15 EPA J. 1989)19 ,19).
[4] Crosson, climate change and mid-latitudes agricultures: prespective on consequences and policy responses, 15 CLIMATIC CHANGE 59 ,51.
[5] Woodwell, supra note 18, at 41.

تودوخې درجې زیاتوالی د دې سبب کېږي چې په سیندونو کې د الجې او نورو اوبیزو نباتاتو پراختیا په اوبو کې د اکسیجن کچه کمه کړي چې پایله کې یې کبان او نورو اوبیز ژوي زیانمنیږي. نو ځکه د سیندونو اکوسیستم موضوع به د اوبو مدیریت مهمه او سخته موضوع وي چې په پایله کې به یې د سیندونو جریان حد اقلي جریان تضمین، د اوبخوړ ساتنه او دا ډول نور چاپېریال ساتونکي محافظتي تدابیر به د ژوو ساتلو لپاره اړین شي.

د ځمکې تودوخې په پایله کې اټکل کېږي چې د سمندرونو کچه په راتلونکو ۵۰ او یا ۱۰۰ کلونو کې له ۱،۳ فوټ څخه تر ۵ فوټه ورسیږي. حتی په ډېره کمه کچه د سمندرونو سطحې لوړېدل د سیندونو مصب جهیلونو غرقیدو، د سیندونو دلتا سیمې خاورې فرسایش، په سمندرونو، جهیلونو، آکویفرونو او ډنډونو کې د مالګینتوب زیاتوالی او د سیلابونو ډېربنت لامل کېږي.[6] د سمندرونو اوبو کچې زیاتوالي سره به په سیندونو او سمندرونو کې د کبانو په شمول شته ژوو ژوند له خطر سره مخ شي. همدارنګ د تیزو بادونو او سونامیو کچه به لوړه شي چې د سیلابونو په برخه کې فاجعه رامنځته کولای شي. هغه سیمې او ملتونه چې د بین‌المللي اوبو په لاندینیو برخو کې موقعیت لري هغوی به د سمندرونو اوبو کچې زیاتوالي څخه اغیزمن ش ي. په طبیعي حالت کې د اقلیمي بدلونونو او اوږدمهاله اقلیمي ناوړه بدلونونو ترمنځ توپیر هم پیچلی کېږي چې دا چاره د دې پدیدې سره د مبارزې په برخه کې ګامونه او هڅې له خنډ او ځنډ سره مخ کولای شي. ځکه چې د هوا په تغییر سره د اقلیمي بدلونونو په برخه کې په مؤقتي هڅو او تدابیرو چاره کېږي لیکن د اوږدمهاله اقلیمي بدلونونو په اړه باید په کلي توګه د اوبو سرچېنو مدیریت کې په تغییراتو سره متعادل شي،دا په داسې حال کې ده چې شته تنظیمات او قراردادونه په دې فرض رامنځته شوي چې ګواکې اقلیمي تغییرات مؤقتي او په هوا کې د تغییراتو پایله ده. د مثال په توګه کچیرې په ورښت کې کمښت لنډمهاله وچکالي رامنځته کړي نو اړوند هېوادونه به مؤقتي حل لارې لټوي په ځای د دې چې دایمي حل لاره باندې کار وکړي. په کوم وخت کې چې بیا دایمي او اوږدمهال اقلیمي بدلون را مینځته شي بیا به شرایط په داسې ډول اساسي تغییر شوي وي چې د اوږدمهاله تغییراتو سره سازګارۍ ډېره ستونزمنه وي.

په کلي توګه ویلای شو چې د اقلیمي تغییراتو اقتضاء داده چې هېوادونه اقتصادي، اجتماعي او سیاسي اړخونو ته په کتو د اوبو سرچېنو مدیریت حل او فصل کړي. د اوبو تخصیص په اړه اړتیا پېښېږي چې هېوادونه بیا سره کښېني او په دې اړه بیاځلي تخصیص په اړه مذاکره وکړي. کّچیرې د اوبو کمښت ستونزه لا جدي کېږي هېوادونه اړتیا لري توافق ته سره ورسیږي چې څنګه کولای شي رامنځته شوی تخصیص کم کړي او په دې اړه فکر وکړي چې آیا شته اوبه باید زراعت ته تخصیص کړي که معیشت ته؟ همدارنګ د صنعتي سکتور او برېښنا تولید برخه به څنګه کېږي؟ سربېره پر دې په اوبو کې د کبانو په شمول د شته موجوداتو حیات او هېبتات تأمین په موخه د لږ تر لږه اوبو او اکوسیستم برخه څه ده؟ که‌چیرې اوبه زیاتیږي ملتونه کولای شي زیاتې اوبه سره ووېشي، لیکن په ورته وخت کې نورې ستونزې هم رامنځته کېږي چې باید اړوند هېوادونه ورته رسیدګي وکړي لکه د سیلابونو کنټرول او داسې نور...

د اوبو سرچینو مدیریت اړوند ځینې هغه مسئلې او موضوعات چې ممکن د اقلیمي تغییراتو په وجه رامنځته شي یا راپورته شي په لاندې توګه دي:

۱. د اوبو تخصیص؛ د اوبو کمښت او زیادښت په وخت کې؛

۲. د اوبو کیفیت ستونزه؛

۳. د اکوسیستم ساتنې په برخه کې هڅې او په سیندونو کې د لږ تر لږه جریان ساتنه؛

٤. د سمندرونو او سیندونو اکوسیستم

۵. د سیلابونو مدیریت.

د پورتنیو او اړوند نورو ستونزو حل په موخه اړتیا ده چې په شریکه سیندیزه حوزه کې ګډ نهادونه( د سیندیزو حوزو سازمانونه) خپل کارونه یا مسئولیتو په سمه توګه اداء کړي. د نورو مواردو ترڅنګ اړتیا ده چې لاندېنی برخو کې تنظیمات رامنځته او پراختیا وموي:

د ملتونو ترمنځ د آمارو، ارقامو او معلوماتو شریکول؛

د اختلافاتو سوله ایز حل او فصل پروسیجر رامنځته کول؛

په قراردادونو او شته تنظیماتو کې د اصلاح او تغییر راوستلو پروسیجر واضح کول؛

د سیندیزې حوزې ګډ مدیریتي ساختار رامنځته کول.

---

[6] Statement of Richard morgentern, office of policy analysis, U.S. Enviromental protection Agency" see Vellinga & leatherman, sea level rise, consequences and policies, 15 climatic change 175(1989).

# د مشورې اهمیت په اسلام کې

لیکونکی مولوي اختر محمد "نصرت"

مشوره د معلوماتو راجمع کولو یو جریان دی، تر څو ستونزه درک او ابهام کم شي مشوره ( تصمیم نیونه )

د یوې ستونزې یا مسئلې د تشخیص او د هغې د حل کولو د جریان څخه عبارت ده.

د اداري د یوې ستونزې یا مسئلې په تړاو څو حل لارو او بدیلونو ارزونه، او د یو یا څو حل لارو انتخابول.

مشوره یا تصمیم نیونه یو جریان دی، چې د یاد جریان له لارې د یوې ټاکلې ( ستونزې ) مسئلې د حل لارې ټاکل کېږي او بیا له بیلابیلو لارو څخه یوه لاره ټاکل کېږي او عملي کېږي .

وَشَاوِرهُمْ فِي الْأَمْرِ فَاذِا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّ‍ّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِيْنَ:

ژباړه: اوله دوی سره په کارو کې مشوره کوه ، بیا چې کله ته پخه اراده وکړې نو په الله باندې توکل کوه ، یقینا الله تعالی له توکل کوونکو سره مینه کوي.

ایه ۱۵۹ سورة آل عمران

أی في أمر الحرب ونحوه مما لم يَنزِل عَلَيكَ فيه وحي تَطيِيباً لِنُفُوسِهم ، وترويحاً لقلوبهم ورفعاً لأقدارهم ولتقتدي بک أمتک فيها فی الحديث : " ماتشاور قوم قط إلا هُدُوا لأرشد أمرهم" تفسير النسيفی (مدارک ج ۱ ص ۳۰۶ )

ژباړه: ابي البرکات عبدالله بن احمدبن محمود النسفی وایي چې مشوره کوه په کارو د جنګ او یا دهغه په مثل نورو کارو کې چې هلته په تا وحي نه وی نازله شوې پایده به یې دا وی چې یو به دوی یعنې ستا ملګری خوشحاله شي بل به د دوی زړونه به ارام او راحت کې شي بل به د دوی قدر او عزت لوړ شي بل پیروې به وکړې امت ستا په دې کارو کې چې هغه له خپلو ملګرو سره مشوره کول دی

او په حدیث کې دی چې مشوره نه ده کړې قوم هیڅکله مګر که یې کړی بیا یې ورته د هغه ښې لارې هدایت شوی او ښې پایلې ته رسیدلې

حضرت ابو هریرة‌رض فرمایي ما د رسول الله ص له صحابه کرامو نه ډیر مشوره کوونکې خلګ نه دې لېدلي تفسیر مدارک ج اول ص ۳۰۹

په اسلام کې د مشورې اهمیت ډیر لوړ دی، د اسلام دین د ټولنې لپاره د حکمت ، عدالت، او همغږي اصلونو ترویج کوی

او مشوره یو له مهیمو وسیلو څخه ده چې د دی اهدافو تر لاسه کولو لپاره کارول کیږی دلته ځینې دلایل دی چې ولې مشوره په اسلام کې لوړ اهمیت لري

الله ج څو ځایه په قرآن مجید کې د مشورې ذکر کړی د سوره شوری په ۳۸ ایه کې الله ج فرمایي وَاَمْرُهُمْ شُوْرى بَيْنَهُمْ

ژباړه: د دوی کار دا وو چې خپل منځ کې به یې مشورې کولې

او په بل ځای کې فرمایي وَشَاوِرْهُمْ فِی الاَمرِ الایه

ژباړه: او مشوره کوئ له دوی سره په کارو کې

زموږ ګران پیغمبر حضرت محمد صلی‌الله‌علیه‌وآله‌وسلم هم په مختلفو وختو کې د خپلو صحابه کرامو سره په مختلفو موضوعاتو مشورې کړې دي.

حضرت عایشه صدیقه رضی الله تعالی عنها له رسول اللهص څخه روایت کوي، چې رسول الله ص فرمایي

لکه څرنګ چې زه په اقامه د فرایضو مامور شوی یم همداشان په زغم کولو او مشوره کولو ماته امر شوی الله ج فرمایي

فَاعفُ عَنهُمْ وَاسْتَغْفِر لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِی الْاَمْرِ الایه

ژباړه: که له ملګرو کومه سهوه یا خطا وشوه عفوه ورته کوه او له الله ج نه مغفرت ورته غواړه او په چارو کې ور سره مشوره کوه

له همدې کبله رسول الله ص ته به که کومه مسئله یا ستونزه یا موضوع پیښه شوه نو له خپلو صحابه کرامو سره به یې مشوره کوله آن د کور د ضروریاتو په اړه به یې هم مشوره کوله یو حکمت په کې دا وو چې د صحابه کرامو زړونه لاسته را وړی او نوموړې خوشحاله او راضي وی بل به یې د موضوع په اړه مختلف نظرونه واوریدل او لا زیات معلومات به یې تر لاسه کړل

اګرکه رسول الله ص تر ټولو خلګو هوښیار او پوه وو له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه هیڅوک هوښیار نه ؤ

خو بیا هم ورته د مشوری آمر شوي نو په همدې اساس هر مشر ته دا لازمه ده چې له لاس لاندې کسانو سره مشوره وکړئ

رسول الله ص د بدر ، اُحُد ، او احزاب په جنګونو کې له خپلو ملګرو سره مشورې وکړي

بدر کې چې ایا د قافلې (کاروان) طرف ته لاړ شو اوکه د دښمن له افرادو سره مقابله وکړو؟

احد کې ایا په مدینې کې پاته شو اوکه مقابلې ته له ښهر نه د باندې ور وځو؟

د احزاب په واقیعه کې ور سره مشوره وکړه چې ایا د مدینې منورې میؤو دریمه حیصه ورکړو د دې په عوض چې له جنګ نه محفوظ شو که دا وکړو یا دا

په دې ټولو کې د صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم نه وغوښتل شول چې ستاسو رایه او نظر څه ده همدارنګه د اِفک په واقعه کې چې منافقینو په حضرت عایشه صدیقه عفیفه رضی الله تعالی عنها تهمت ولګول له خپلو صحاب کرامو رض سره مشوره وکړه او خپله رایه یې هم ښکاره کړه وی فرمایل چې په الله ج قسم چې زه په خپل کور واله وو باندې له خیر نه سوا بل څه نه وینم بیا یې هم له صحابه کرامو سره مشوره وکړه هرچا د خپل دید په انداز مشوره ورکړه

ابن عباس(رض) په دی ایت کې وَشَاوِرهم فی الامر فرمایې چې له دینه ابوبکرصدیق(رض) او عمر فاروق(رض) مراد دی ځکه دوی د رسول الله ص وزیران او مددکونکې وو او د مسلمانانو دوه پلاران وو

عبدالرحمن بن غنم(رض) وایې چې رسول الله ص حضرت ابوبکر(رض) او حضرت عمر(رض) ته وویل چې که تاسو دواړو په یوه موضوع کې اتفاق د نظر لرل زه به ستاسو مخالفت ونه کړم

ابو مسعود(رض) له رسول اکرم ص نه روایت کوی چې فرمایې اَلْمُسْتَشَارَ مُؤْتَمَنٌ ( رواه ترمذی زادالطالبین ص ٥)

ژباړه: له چانه چې مشوره اخیستل کیږی هغه به امانتدار وی

حضرت جابر(رض) له رسول الله ص نه روایت کوی فرمایې چې هرکله یو مسلمان وړور درنه مشوره وغوښته مشوره ورکړی او ښه مشوره د خیر او فلاح مشوره. ( تفسیرابن کثیر جزء ٤ ص ٥٢٩)

لهذا څوک چې مسؤل وی هغه که په هر انداز او کټګوری کې وی ولوکه د کور مشر وی یا د ټولو مسلمانانو مشر د وزارت یا ولایت یا ولسوالي قومنداني په سطحه یا مدیر د اداري وي له لاس لاندو ( ماتحتو ) سره مشوره وکړي یو به د هغوی زړونه خپل کړي بل به د هغوی له تجربو څخه ګټه واخلي مشوره نه یواځې د فردې ژوند لپاره مهمه ده بلکه د ټولنې په مسائلو کې هم د ټولو ګټو په پام کې نیولو سره پر مخ تګ ته لار هواروي مسلمانان باید د خپل ایمان پر اساس د خپلې ټولنې کورنۍ او د هیواد په چارو کې مشورې ته اهمیت ور کړي

حضرت علی کرم الله وجهه فرمایې
مَاهَلَکَ اِمْرَءٍ عَنْ مَشْوَرَةٍ

ژباړه: نه دی هلاک شوی هیڅ یو نفر له مشورې نه

امام برهان الاسلام الزرنوجی(رح) تلمیذ صاحب الهدایه(رح) په خپل کتاب تعلیم المتعلم طریق التعلم کې لیکې چې انسانان په درې قسمه دي

١ رَجُل (کامل سړی)
٢ نِصف رَجُل( نیم سړی)
٣ لاشئ( هیڅ شي یعني نیستې)

کامل سړی هغه ده چې خپله صاحب د رایه او نظر وی او له نورو سره هم مشوره کوې نیم سړی هغه ده چې خپله نظر لرې او صاحب رایه وی خو مشوره نه کوی یا مشوره کوی خو صاحب رایه او نظر نه وی نیستې یا هیڅ شي هغه کس ده چې نه صاحب رایه او نظر وی او نه مشوره کوی دیته په عربی کې لَاشَئَ ویل کیږي حضرت جعفر الصادق(رض) حضرت سفیان الثوری(رض) ته ویل شَاوِرْ فِی أَمْرِکَ الْذِیْنَ یَخْشَوْنَ الله تعالی

ژباړه: مشوره کوه په چارو کې له هغو کسانو سره چې هغه له الله ج څخه ویریږی

)تعلیم المتعلم طریق التعلم ص ١٧(

پورتنیو آیاتو ، احادیثو، او واقیعاتو ته په کتو په هر مسئول او فرد دا لازمېږي تر څو د ژوند په چارو کې مشورې وکړئ

مسئول کس له ماتحتو سره او که څوک مسئول یا مشر نه وي هغه هم له خپل ځان سره مشوره وکړي چې زما دنیوي او اخروي ژوند.

کامیابي په څه کې ده
نو خپل ځانته به مخاطب شي
١ : دا زه څه وایم او څه کوم ؟
٢ : په دې به ما ته څه را کول کېږي؟
٣ : او دا د چا لپاره؟

له پورتنیو اقوالو نه موږ ته درې خبرې په لاس راځي

اول دا چې په ټولو چارو کې مشوره ګټوره ده

دوهم دا چې مشوره باید له داسې کسانو سره وشي چې نوموړی واقیعاً له الله ج نه ویریږي، متقي او پرهیز ګاره انسان او په مسئله ( ستونزه ) کې هر اړخیزه پوه ولرې

دریم دا چې مشوره ورکوونکی به د مشورې اخیستونکي خبره له ځان سره ساتي بل چاته به یې نه بیانوي.

وما علینا الا البلاغ المُبین

# مدیریت منابع آب و پروژه‌های اقتصادی کلید توسعه افغانستان

**نویسنده:- محمد خالد (محمدی) – کارشناس جذب فرصت های مالی تغییرات اقلیم**

اجرای پروژه‌های اقتصادی کلید برای رشد و توسعه اقتصادی در افغانستان به شمار می آید. تمرکز بر بازسازی اقتصادی نه‌تنها به‌عنوان بخشی از دولت سازی اهمیت دارد، بلکه برای تامین رفاه اجتماعی و کاهش فقر نیز حیاتی است. مدیریت و رهبری صحیح برنامه‌های اقتصادی می‌تواند شکاف های موجود را پر کرده و از چالش های پیشرو در مسیر توسعه اقتصادی جلوگیری کند.

افغانستان به عنوان کشوری با منابع طبیعی غنی و موقعیت استراتیژیک ویژه، ظرفیت بالایی برای رشد و توسعه اقتصادی دارد. در عین حال، این کشور با چالش‌های متعددی مانند فقر، بیکاری و وابستگی به کمک های خارجی مواجه است. در این مقاله، به بررسی نقش مدیریت درست منابع آب و اجرای پروژه‌های اقتصادی در تأمین توسعه اقتصادی، کاهش فقر، و ایجاد ثبات اقتصادی پرداختیم.

این کشور می‌تواند از منابع آبی خود برای ساخت و توسعه بندهای آبگردان، تولید انرژی برق آبی و آبیاری زمین‌های زراعتی استفاده کند. بندهای آبگردان نه تنها ظرفیت تامین انرژی پایدار را دارند، بلکه از وقوع سیلابها جلوگیری کرده و نقش مؤثری در مدیریت منابع آبی و جذب سرمایه‌گذاری های داخلی و خارجی ایفا می کند.

یکی دیگر از عوامل مهم در بازسازی اقتصادی افغانستان، توجه به بخش زراعت است. براساس گزارش وضعیت زراعتی سال ۱٤۰۲ وزارت زراعت و سازمان FAO تنها ۸ درصد از زمین های زراعتی افغانستان زیر کشت قرار دارد که در حدود ۷,۸ میلیون هکتار زمین می شود و از این مقدار ۲,۸۵ میلیون هکتار آن قابل کشت و به مقدار ۵ میلیون هکتار آن قابلیت آبیاری را دارد و اما بخاطر عدم مدیریت آب تنها ۲,۱ میلیون هکتار آن آبیاری می‌شود. با استفاده از تکنالوژی‌های نوین، این رقم می‌تواند به ۱۵ درصد افزایش یابد و تولیدات زراعتی را تا ۳۰ درصد بهبود ببخشد. " گزارش پیشبینی وضعیت زراعتی ۱٤۰۲ وزارت زراعت، آبیاری و مالداری و سازمان FAO"

**مدیریت منابع آب**

افغانستان دارای حدود ۷۵ میلیارد متر مکعب منابع آب سالانه است، که در حدود ۵۷ میلیارد متر مکعب آنرا آبهای سطحی و ۱۸ میلیارد متر مکعب آنرا آبهای زیر زمینی تشکیل می دهد. که تنها ۲۵ درصد یعنی ۲۰ میلیارد متر مکعب آن بصورت مؤثر استفاده می‌شود. حدود ۳۷ میلیارد متر مکعب آب هر سال به کشورهای همسایه جریان می‌یابد. ساخت بندهای آبی جدید می‌تواند میزان بهره برداری منابع آبی را به بیش از ۷۵ درصد افزایش دهد و از هدر رفتن سالانه بیش از ۳۷ میلیارد متر مکعب آب جلوگیری کند. منابع آبی که حالا در جریان قرار دارد می تواند مزایای زیر را به همراه داشته باشد . " گزارش ارزیابی های وزارت انرژی و آب از ذخایر آبی افغانستان"

- **تامین آب برای کشاورزی:** توسعه زیر ساخت های آبی به افزایش تولیدات زراعتی و کاهش وابستگی به واردات مواد غذایی کمک می‌کند.
- **کنترول سیلابها:** ساخت بندهای بزرگ می‌تواند خطر سیلابهای مکرر را کاهش داده و امنیت مناطق پایین دست را تامین کند.
- **تولید انرژی آبی:** بندهای آبی یکی از منابع پاک و پایدار تولید انرژی هستند که می‌توانند نیاز کشور به انرژی را به شکل مداوم تامین کنند و بقیه انرژی تولیدی را برای کشورهای همسایه صادر نماید.
- **مدیریت یکپارچه منابع آب:** مدیریت درست آبهای سطحی به منظور جلوگیری از هدر رفتن آن در کشور سبب تقویت و دست نخوردن آبهای زیرزمینی به شکل پایدار می شود.



**توسعه بخش انرژی**

افغانستان با داشتن موقعیت جغرافیایی مناسب می‌تواند به یک مرکز انتقال انرژی در منطقه تبدیل شود. بر اساس گزارش وزارت آب و انرژی، افغانستان دارای ظرفیت تولید ۲۳,۰۰۰ مگاوات برق آبی است، اما تنها ۱۰ درصد آن در حال حاضر مورد بهره برداری قرار گرفته است.

پروژه های بزرگ انتقال انرژی مانند پایپ لاین تاپی و پروژه کاسا یکهزار نمونه هایی از این ظرفیت‌های بهره برداری هستند. این پروژه‌ها نه تنها درآمد اقتصادی برای کشور ایجاد می‌کنند، بلکه به تقویت روابط منطقه‌ای نیز کمک می‌نمایند. راهکارها و فرصت های موجود در این بخش شامل موارد زیر است.

"UNDP - How Renewable Energy is changing Lives inAfghanistan Sep 13, 2017پ

- ✓ **تدوین ماستر پلان**: تدوین استراتیژی و (Roadmap) برای استفاده از انرژی‌های تجدیدپذیر و تجدید ناپذیر
- ✓ **انتقال انرژی**: ایجاد شبکه‌های انتقال برق و گاز از آسیای میانه به آسیای جنوبی.
- ✓ **تولید انرژی پاک**: استفاده از منابع آبی و خورشیدی برای تولید برق و مرفوع ساختن مشکلات انرژی کشور به شکل پایدار.

**نقش پروژه‌های اقتصادی در رسیدن به توسعه اقتصادی افغانستان**

پروژه‌های اقتصادی یکی از عوامل کلیدِی در دستیابی به توسعه اقتصادی در افغانستان به شمار می‌روند. این پروژه‌ها باید با هدف کاهش فقر و بیکاری، تقویت زیرساخت‌های کشور و ایجاد فرصت‌های اقتصادی برای مردم طراحی شوند. اجرای این پروژه‌ها، از جمله پروژه‌های زیربنایی، صنعتی، زراعتی، مدیریت منابع آب و تولید انرژی می‌تواند تأثیر چشم‌گیری در بهبود شاخص‌های اقتصادی و اجتماعی کشور داشته باشد. بر اساس تحلیل های وزارت اقتصاد اجرای این پروژه ها می تواند نرخ بیکاری را از ۶۰ درصد به ۲۵ درصد کاهش داده و رشد اقتصادی را به بیش از ۹ درصد در سال برساند.




Development Project: - https://www.youtube.com/watch?v=Kyi_MKJmKTA”

**نتیجه گیری**

برای رسیدن به توسعه پایدار در افغانستان، برنامه‌ریزی دقیق و جامع در عرصه پروژه‌های اقتصادی ضروری است. در ادامه به برخی از مهم‌ترین اولویت‌ها و راهکارها اشاره می‌شود

1. **استقلال اقتصادی**

- **استفاده از منابع داخلی:** تأکید بر استفاده از منابع داخلی و سرمایه‌گذاری در پروژه‌هایی اقتصادی و زیربنایی، باعث کاهش وابستگی به کمک‌های بین‌المللی و خود کفایی افغانستان میشود.
- **توسعه صنایع ملی**: حمایت از صنایع کوچک و متوسط برای تولید محصولات داخلی، ساختن مکان های مناسب برای نگهداری آنها سبب کاهش وابستگی به واردات میشود
- **تقویت صادرات**: شناسایی فرصت‌های صادراتی و تسهیل دسترسی به بازارهای منطقه‌ای و بین‌المللی برای نمایش گذاشتن محصولات وطنی بخاطر کسب ارزش در بازار های بین المللی
- **جذب سرمایه‌گذاری:** تشویق سرمایه‌گذاران داخلی و خارجی برای مشارکت در پروژه‌های اقتصادی، ساختن بندهای جدید و تولید انرژی.

۲. **توسعه زراعت و منابع طبیعی**

- **افزایش زمین‌های زیر کشت:** توسعه زمین‌های زراعتی و ارائه تجهیزات مدرن به کشاورزان برای افزایش حاصلات زراعتی به منظور تقویت و همکاری با آنها.
- **ایجاد مراکز تحقیقاتی کشاورزی:** تحقیق و توسعه در حوزه زراعت برای بهبود روش‌های کشت، ساختن سرد خانه های مجهز برای نگهداری محصولات زراعتی و افزایش تولیدات داخلی زراعتی می تواند نیاز کشور را به شکل پایدار مرفوع نماید
- **مدیریت منابع آبی برای زراعت:** توسعه سیستم‌های آبیاری مدرن برای زمین های قابل کشت بخاطر عدم استفاده از آبهای زیرزمینی و مدیریت پایدار منابع آبی.
- **ایجاد فرصت‌های شغلی محلی:** پروژه‌های زراعتی باید به گونه‌ای طراحی شوند که جمعیت محلی را در پروژه های زراعتی مشغول به کار نماید .
- **پایداری زیست محیطی:** پروژه‌ها باید به گونه‌ای طراحی شوند که منابع طبیعی را حفظ کرده و از تخریب محیط‌زیست جلوگیری کنند.

# د تحریر ارزښت او د ځوانانو مسؤلیت!

لیکوال داکتر فتح الله "عمرخالد"

تحریر هغه الهي نعمت دی چې انسان ته یې د نورو مخلوقاتو په پرتله ځانګړی فضیلت ورکړی دی. د کلمې او قلم اړیکه د وحې په لومړیو کلماتو کې بیان شوې، اقرأ باسم ربک الذی خلق، او بیا په دې ټینګار شوی چې الذی علم بالقلم. دا د تحریر ځانګړتیا ده، چې د الله جل جلاله لخوا ځانګړې ستایل شوی دی، ځکه چې له همدې وسیلې څخه د علم، فکر، او تاریخ بنسټ ایښودل شوی دی. تحریر نه یوازې د علم ساتونکی دی، بلکې د تمدنونو د پرمختګ، د دین د پیغام خپربدو، او د حقایقو د ژوندي ساتنې لپاره تر ټولو غوره وسیله ده.

که تحریر نه وای، د انبیاووعلیهم السلام هغه ستر پیغامونه چې انسانیت ته د لارښوونې لپاره ورکړل شوي، یوازې د یوې زمانې په محدوده کې بند پاتې کېدل. که تحریر نه وای، د صحابه کرامو رض هغه روښانه ژوند چې د ایمان، قرباني، او اخلاص ستر مثالونه دي، زموږ له لاسرسي څخه لرې پاتې کېدل. که تحریر نه وای، نه به د جهادي غزاوو حماسې ژوندۍ پاتې وای او نه به د دیني مسایلو د انتقال کومه وسیله موجوده وای.

تحریر د انساني فکر او د زمانې د غوښتنو هغه انځور دی چې د یو نسل پیغام راتلونکو نسلونو ته رسوي. دا د ځوانانو دنده ده چې د خپل قلم په حرکت راوستلو سره هغه څه ولیکي چې راتلونکي نسلونه پرې وویاړي او د خپل تاریخ او دین په اړه پرې پوه شي. د قلم ارزښت یوازې په دې کې نه دی چې لیکنې پرې وشي؛ بلکې په دې کې دی چې د حقیقتونو ساتنه وکړي، دروغ له منځه یوسي، او د ژوند هره برخه په روښانه ډول ثبت کړي.

## تحریر او دیني ارزښتونه:

تحریر د دیني مسایلو د بقا او انتقال لپاره یو اړین ځواک دی. د قرآن کریم کتابت د تاریخ تر ټولو ستره بېلګه ده چې د تحریر ارزښت څرګندوي. د اسلامي تاریخ هره لاسته راوړنه، د علماوو فتاوی، د فقهي مسایلو وضاحتونه، او د صحابه کرامو ژوندلیکونه ټول د تحریر په وسیله موږ ته را رسېدلي دي.

تحریر د علمي پانګې د خوندي کولو هغه وسیله ده چې د ماضي پیغامونه ژوندي ساتي. د انبیاوو ژوند، د صحابه کرامو قرباني، او د دیني علماوو د هڅو ثبوتونه ټول د هغو کسانو د هڅو پایله ده چې خپل قلمونه یې د حقایقو د ثبت لپاره په حرکت راوستي دي. که تحریر نه وای، د دین هغه حقیقتونه چې موږ یې نن درک کوو، له منځه تللي وای.

د امت ځوانان باید د دیني ارزښتونو په ساتنه کې د قلم له ځواک څخه ګټه واخلي. د اسلامي تمدن لاسته راوړنې، د جهادي غزاوو درسونه، او د علماوو علمي میراث هغه څه دي چې د تحریر په وسیله راتلونکو نسلونو ته سپارل کېږي. که نوموړي مبارزین خپل مسؤلیت درک نه کړي، زموږ دیني ارزښتونه او تاریخي حقیقتونه به دښمنانو ته د تحریف لپاره پرېښودل شي.

## تحریر او تاریخ:

تاریخ د تحریر په وسیله ژوندۍ پاتې کېږي. د نړۍ ستر انقلابونه، د امت بریاوې او ماتې، او د حق او باطل جګړې ټولې د هغو قلمونو له برکته موږ ته را رسېدلې دي چې د حقایقو د ثبت لپاره په حرکت راوستي وو. تحریر د هغو اتلانو کارنامې ژوندۍ ساتي چې د خپلو دیني او ملي ارزښتونو لپاره یې قرباني ورکړې.

په دې نړۍ کې داسې ډېر موارد شته چې تاریخ یې د هغو کسانو له خوا تحریف شوی چې حقایق یې په خپله ګټه بدل کړي دي. که تحریر نه وای، زموږ اتلان به د غلامانو په نوم یاد شوي وای، او غلامان به د اتلانو په نوم ثبت شوي وای. د دې لپاره چې راتلونکي نسلونه د خپل تاریخ په اړه رښتیني معلومات ترلاسه کړي، د امت مبارزو ته پکار ده چې خپل قلمونه د حقایقو د ثبت لپاره وکاروي.

## د ځوانانو مسؤلیت:

د امت ځوانانو ته پکار ده چې د تحریر ارزښت درک کړي او خپل مسؤلیت ترسره کړي. قلم هغه ځواک دی چې د توري ترڅنګ د انقلابونو د بریا او بقا وسیله ده. د قلم ځواک په دې کې دی چې د پیړیو پیړیو تاریخونه ژوندي ساتي، د راتلونکي لپاره لارې چارې ټاکي، او د دیني او تاریخي ارزښتونو د بقا لپاره زمینه برابروي.

مبارزین باید پوه شي چې که نن یې خپل قلمونه په حرکت رانه وستل، نو سبا به د دوی د دین، تاریخ، او فرهنګ حقایق د دروغو تر سیوري لاندې پاتې شي. د امت د تاریخ ثبت، د دیني ارزښتونو ساتنه، او د راتلونکي نسلونو لپاره د علم او فکر انتقال هغه دنده ده چې یوازې د ځوانانو په اوږو ایښودل شوې ده.

## پایله

تحریر د انساني ژوند هغه ځواک دی چې د تاریخ ساتنه، د دیني پیغام خپرول، او د تمدنونو بقا تضمینوي. دا د هر مسلمان ځوان دنده ده چې د قلم په وسیله د خپل دین او تاریخ ساتونکي واوسي. که ځوانان خپل مسؤلیت ترسره نه کړي، د تاریخ پاڼې به تحریف شي، او د حقایقو ځای به دروغ ونیسي.

تحریر یوازې د ماضي ساتنه نه کوي؛ بلکې د حال اړتیاوې څرګندوي او د راتلونکي لپاره لارې چارې ټاکي. د امت ځوانان باید خپل قلمونه د دین، تاریخ، او فرهنګ د ساتنې لپاره په حرکت راولي او د تحریر هغه ځواک وکاروي چې د انساني فکر او تمدن د پرمختګ تضمین کوي. د قلم ځواک په دې کې دی چې د حقایقو ساتنه وکړي، د دروغو مقابله وکړي، او د ژوند هر اړخ روښانه کړي. تحریر هغه امانت دی چې د پیړیو پیړیو تاریخونه په کې پټ دي، او دا امانت باید په بشپړه توګه راتلونکو نسلونو ته وسپارل شي.

# د برښنا انرژي په پراختیا کې د ریموټ سینسنګ اهمیت

لیکونکی: انجنیر عبدالبصیر وزیري = کتونکی: ډاکټر محمدعابد انورزی

لکه څرنګه چې د ۲۱مه میلادي پېړۍ له پیل سره سم د ټکنالوژي د بېساري پرمختګ شاهدان یو تر دې زیات د بشري غوښتنو زیاتوالی هم تر سترګو کېږي خو د هرې بشري غوښتنې په سر کې د برېښنا انرژي نوم شته وي دا ځکه چې د ټکنالوژي، صنعت او نورو... پراختیا برېښنا ته اړتیا لري او پرته لدې ناشونې ده.

پخوا دا مهمه نه وه چې له کومو لیارو د برېښنا انرژي ترلاسه کېږي او نه یې هم په چاپیریال اغیزو ته د چا دومره پام وو مګر دوه یا نژدې درې وروستی لسیزې چې نړیواله تودونه د اقلیم له شدید بدلون سره مخ ده نو اوس تر ټولو مهمه شوه چې برېښنا له داسې لارې ترلاسه کړي چې چاپیریال ته یې د ضرر کچه تر ټولو لږ وي؛ نو د برېښنا انرژۍ نوې کېدونکي سرچینې یې هغه دي چې په وروستیو کلونو کې د څېړونکو او چاپیریال ساتنې فعالانو پام وراوښتی، ددې سرچینو د عمومي مطالعې او څېړنې لپار لومړنی تر ټولو غوره لار د لیرې سنجش یا ریموټ سینسنګ ده چې د ځمکې په کُره کې په هر مقیاس چې مطلوبه وي کولای شو څېړنې وکړو مخکې لدې چې تخنیکي ټیمونه سیمې ته د څېړنو په موخه واستول شي.

د ریموټ سینسنګ لپاره تر ټولو غوره تعریف هغه ده چې د امریکا متحده ایالتونو د ځمکپوهنې ادارې (USGS)لخوا وړاندې شوی دی چې په لاندې ډول دی:

ریموټ سینسنګ د یوې سیمې د فزیکي ځانګړتیاوو د کشف او څارلو پروسه ده چې په لرې واټن کې د هغې څخه منعکس شوې او خارج شوې وړانګې اندازه کوي (په ځانګړې ډول د سپوږمکۍ یا الوتکې څخه). ځانګړې کمرې له لیرې څخه حس شوې عکسونه راټولوي، کوم چې د څېړونکو سره د ځمکې په اړه د شیانو " حس" کولو کې مرسته کوي.

په سپوږمکۍ او الوتکو کې کمرې د ځمکې په سطحه د لویو سیمو عکسونه اخلي او موږ ته اجازه راکوي چې د ځمکې پر مخ د ودربدو څخه پرته ډېر څه وګورو.

ریموټ سنسنګ اوسمهال په پرمختللو هیوادونو کې په ډېرو کاري برخو کې د استفادې وړ ده مګر په وروسته پاتې هیوادونو کې له دې ټکنالوژي سره بلدتیا کمه ده.

د برېښنا انرژي په سکتور کې د ریموټ سینسنګ عمده نقش په لاندې توګه بیانولی شو:

### ۱ د برېښنا انرژي د تولید سرچینې معلومول:

هغه تصویرونه چې د سپوږمکیو په وسیله اخستل کیږي ډېره آسانه ده چې په تحلیل سره یې موږ د برېښنا انرژي سرچینې معلومې کړو او ورپسې لاسته راغلي معلومات یې تجزیه او تحلیل کړو، لدې لیارې د انرژي نوې کېدونکې او نه نوې کېدونکې سرچینې په خورا آساني پیژندل کیږي چې دا د انرژي په برخه کې تر ټولو ستر ګام ګڼل کیدای شي.

### ۲ په کم لګښت د امکان سنجي مطالعاتو د یو شمېر پراوونو ترسره کول:

ریموټ سنسنګ د پروژو د امکان سنجي مطالعاتو تر ټولو آسانه، آرزانه او چټکه لار ده چې په ډېرو سختو شرایطو کې هم د استفادې وړ ده. لکه څنګه چې اوس د برېښنا پروژو د امکان سنجي په مطالعاتو خورا ډېر لګښت راځي البته خو کچیرې د ریموټ سینسنګ پواسطه یې لومړني پړاوونه بشپړ شي بیا یې تر ډېره لګښت کمیدای شي. البته داسې پروژې هم شته ده چې د امکان سنجي په مطالعاتو یې لوړ لګښت راشي مګر د اجرا وړ نه وي. خو که چیرې د ریموټ سینسنګ پواسطه یې مطالعات ترسره شي نو شوني ده چې د داسې پروژو مخنیوی په هماغه لومړیو کې وشي پرته لدې چې لګښت پرې راشي.

### ۳ د برېښنا انرژي د تقاضا معلومول:

د ریموټ سینسنګ پواسطه اوس د هیوادونو نفوس اټکل کیدای شي البته هغه هیوادونه چې د احصائیې دقیق معلومات نلري چې د وګړو تعداد اټکل سره کیدای شي د برېښنا انرژي ته تقاضا هم معلومه شي نو د هوایي تصویرونو په تحلیل سره نه یواځې د وګړو تعداد بلکې د هغو اقتصادي حالت هم چې د دې تقاضا د معلوملو یوه برخه ده ځکه که د خلکو اقتصاد ښه وي نو بیا هغه کوي چې په بیلابیلو برخو کې پانګونه وکړي چې دا پانګونه که په هره برخه کې وه مثلا صنعتي، سوداګري او یا نور... هغه بیا برښنا ته اړتیا لري چې لدې لیارې یې د تقاضا معلومول په آساني سره کیدای شي.

### ٤ د برېښنا انرژي د سټیشنونو لپاره د غوره موقعیت ټاکل:

ریموټ سینسنګ د ځمکې سطحې د توپوګرافي د انعکاس تر ټولو غوره وسیله کیدای شي او لدې لیارې کولای شو د ځمکې پر مخ بیلابیلې پدیدې لکه غرونه، ځنګلونه، سیندونه، لوړې، ژورې، زلزله خیزې ځمکې، باد لرونکې سیمې، د اور غورځونکې سیمې، کرنیزې ځمکې او نور... وپیژندلی شو چې دا پخپله د برېښنا انرژي د تولید لپاره د موقعیت په ټاکلو کې بیلابیل فکتورونه کیدای شي. نو کله چې د برېښنا انرژي د تولید سرچینې معلومې شوې نو لدې سر چینې د ګټې اخستنې په پار اړتیا ده چې هلته سټیشنونه جوړ شي تر څو عملاً د برېښنا تولید پیل شي نو ددې لپاره د هوایي تصویرونو تحلیل مرسته کوي چې تر ټولو غوره موقعیت د هر پلوه وټاکو او د برېښنا انرژي د تولید دستګاه پرې ورغوو.

### ۵ د برېښنا انرژي د وېش د خورا مصئونې او اقتصادي شبکې رامنځته کول:

کله چې د برېښنا انرژي د تولید لپاره د بیلابیلو پړاوونو مطالعې او څېړنې پای ته ورسیږي نو عملاً باید شبکه ډیزاین شي تر څو تولید او وېش تر سره کړو البته د پروژې د پلي کولو بیلابیل اړخونه په پام کې نیسو چې یو اړخ یې هم د پروژې اقتصاد دی نو ددې لپاره هم تر ټولو غوره لار د ریموټ سینسنګ مطالعات دي چې زموږ سره ډېره مرسته کوي تر څو له هر پلوه اقتصادي پروژه مخته یوسو.

### ٦ د وخت له ضایع کېدو مخنیوئ

کچیرې موږ د یوې پروژې لپاره د امکان سنجي مطالعات کوو نو له بیلابیلو ننګونو سره مخ کیږو چې په لومړي سر کې د اقلیم شرایط، د ترانسپورټیشن لګښت، په سیمه کې د تخنیکي ټیم د اوسیدو لپاره د ځای نشتون او داسې نور... خو د لیرې سنجش پواسطه لومړنی امکان سنجي او نور څېړنیز پړاوونه ډېر ژر بشپړیږي او د وخت له ضایع کیدو مخنیوی کوي.

اوسمهال د ځمکې په مدار کې د اکترو هیوادونو فضایي سپوږمکۍ فعالیت لري چې وخت ناوخت د ځمکې د سطحې تصویرونه خپروي نو ددې تصویرونو پر مټ موږ کولای شو بیلابیلې څېړنې ترسره کړو چې لدې لیارې دقیق تحلیل ترسره کیدلای شي او د اضافي مصارفو مخنیوی هم کیدلاسی.

# بهبود موثریت در سکتور انرژی برق افغانستان

نویسنده: انجنیر رحمت الله الهام

سکتور انرژی برق افغانستان یکی از مهم ترین بخش‌های زیربنایی برای توسعه اقتصادی و اجتماعی کشور است. با وجود سرمایه گذاری های انجام‌شده در دهه‌های اخیر، این بخش همچنان با چالش‌های متعددی مانند ضایعات انرژی در مراحل تولید، انتقال و توزیع روبرو است که منجر به کاهش موثریت سیستم برق رسانی می شود. این تحقیق به بررسی جامع و ارائه راهکارهای بهبود موثریت در سکتور انرژی برق افغانستان، با تمرکز بر تولید، انتقال، توزیع و کاهش ضایعات می پردازد.

برای دستیابی به اهداف تحقیق، در ابتدا مرور ادبیات به منظور شناسایی چالش‌ها و فرصت‌های موجود در سکتور انرژی برق افغانستان انجام شده است. در این بخش، به تحلیل گزارش‌ها و مطالعات قبلی در زمینه تولید انرژی از منابع داخلی، وضعیت شبکه انتقال و مشکلات مربوط به زیرساخت های توزیع پرداخته شده است. همچنین، میزان ضایعات برق در مراحل مختلف بررسی و با استانداردهای بین المللی مقایسه شده است تا نقاط ضعف سیستم فعلی مشخص گردد .روش شناسی این تحقیق شامل یک رویکرد ترکیبی است که از تحلیل کمی و کیفی استفاده می‌کند. داده‌های مربوط به میزان تولید، انتقال و توزیع برق از منابع معتبر و نهادهای دولتی جمع‌آوری شده و با استفاده از مدل‌های آماری و شبیه‌سازی‌های نرم‌افزاری تجزیه و تحلیل شده است. در بخش کیفی، مصاحبه‌هایی با متخصصین و مدیران ارشد در سکتور برق انجام شده تا چالش‌های واقعی و فرصت‌های بهبود بهتر درک شود. سپس، راهکارهای پیشنهادی به منظور کاهش ضایعات و بهبود موثریت در تولید و توزیع برق ارائه شده است .نتایج تحقیق نشان می‌دهد که با اجرای راهکارهای پیشنهادی مانند ارتقای زیرساخت های شبکه انتقال، استفاده از تکنولوژی های نوین در تولید انرژی، و بهتر سازی سیستم توزیع، می‌توان ضایعات را به میزان قابل توجه کاهش داد و موثریت را بهبود بخشید. این تحقیق به تصمیم گیران و سیاست گذاران سکتور انرژی در افغانستان کمک می کند تا برنامه های اجرایی موثرتری برای بهبود وضعیت موجود تدوین و اجرا کنند.

تحقیق در مورد بهبود موثریت در سکتور انرژی برق افغانستان به عنوان یکی از چالش‌های اساسی نظام انرژی کشور، نه تنها به ضرورت تأمین انرژی پایدار و قابل اعتماد در سطح ملی می‌انجامد، بلکه به رشد اقتصادی و توسعه اجتماعی نیز متصل می‌شود. افغانستان با وجود داشتن منابع انرژی فراوان از جمله آب، خورشید و باد، همچنان با کمبود انرژی، زیرساخت‌های ضعیف و عدم دسترسی بالای بخش‌های وسیعی از جامعه به برق مواجه است. این مسئله نه تنها به کاهش کیفیت زندگی مردم، بلکه به محدودیت‌های اقتصادی و اجتماعی نیز منجر می‌شود

تحلیل موثریت در این بخش شامل مراحل مختلف تولید، انتقال، توزیع و ضایعات انرژی است که هر کدام به نوبه خود چالش‌ها و فرصت‌های خاص خود را دارند. در مرحله تولید، تلاش برای استفاده از منابع تجدیدپذیر و بهینه‌سازی سیستم‌های تولید برق می‌تواند به کاهش هزینه‌ها و بهبود کارایی منجر شود. علاوه بر این، نیاز به سرمایه‌گذاری در فناوری‌های جدید و به‌کارگیری روش‌های نوین در تولید انرژی احساس می‌شود. به‌خصوص، استفاده از انرژی‌های خورشیدی در مناطقی که دسترسی به منابع آبی محدود است، می‌تواند راه‌حل مناسبی باشد.

در مرحله انتقال انرژی، وجود زیرساخت‌های ناکافی و قدیمی سبب ایجاد خسارات و ضایعات بالایی در سیستم می‌شود. نبود شبکه‌های مدرن و کارآمد نه تنها بر کیفیت خدمات انرژی تأثیر می‌گذارد، بلکه بر رشد اقتصادی نیز تأثیر سوء می‌گذارد. به همین دلیل، ارتقای زیرساخت‌های انتقال برق و ایجاد شبکه‌های هوشمند می‌تواند نقش حیاتی در بهینه‌سازی مصرف و کاهش ضایعات داشته باشد. چه بسا که برای تأمین برق پایدار در کشور، برقراری خطوط انتقال جدید و بهسازی خطوط موجود ضرورت دارد.

در مرحله توزیع، متأسفانه کمبود آگاهی و عدم مدیریت صحیح موجب ضایعات قابل توجهی می‌شود. توزیع غیرموثر انرژی و ناتوانی در کنترل تلفات انرژی در این بخش به ایجاد نارضایتی‌های اجتماعی و اقتصادی دامن می‌زند. بهبود فرآیندهای توزیع و آموزش مصرف‌کنندگان در استفاده بهینه از انرژی می‌تواند به کاهش ضایعات منجر شود. همچنین، پیاده‌سازی سیستم‌های اندازه‌گیری هوشمند و نظارت بر وضعیت شبکه‌های توزیع می‌تواند در شفاف‌سازی و بهبود مدیریت مصرف مؤثر باشد.

تحقیق در این زمینه می‌تواند به شناسایی راهکارهای مؤثر در تمامی مراحل تولید، انتقال و توزیع انرژی پرداخته و با ارزیابی ضایعات موجود، پیشنهادات کاربردی ارائه دهد. برای دستیابی به بهبود موثریت در سکتور انرژی، نیاز به همکاری میان دولت، بخش خصوصی و جامعه مدنی احساس می‌شود. این همکاری می‌تواند شامل سرمایه‌گذاری در زیرساخت‌ها، ارتقاء فناوری و آموزش جبران استفاده مؤثر از انرژی باشد که در نهایت به افزایش کیفیت زندگی مردم و رشد پایدار اقتصادی منجر خواهد شد.

در نتیجه، توجه به چالش‌های متعددی که سکتور انرژی برق افغانستان با آن مواجه است، از جمله فقر انرژی، زیرساخت‌های غیرپایدار، و ضایعات بالا، نیازمند تحقیقات عمیق و جامع است. بنابراین، این مطالعه می‌تواند به‌عنوان یک مرجع علمی و عملی برای سیاست‌گذاران، محققین و تمامی ذینفعان عمل کند. بهبود موثریت در سکتور انرژی برق نه تنها به کاهش هزینه‌ها و افزایش کیفیت خدمات منجر می‌شود، بلکه می‌تواند به

ایجاد یک آینده پایدار و تابع از منابع انرژی ممکن در کشور کمک کند.

**مرور ادبیات یا بررسی منابع وضعیت کنونی سکتور انرژی:**

افغانستان دارای پوتنسیل بالای تولید انرژی، به ویژه انرژی آبی، خورشیدی و بادی است. با این حال، این کشور تنها ۲۰ درصد از برق مورد نیاز خود را از منابع داخلی تأمین می‌کند و ۸۰ درصد باقی‌مانده از کشورهای همسایه وارد می‌شود . در این راستا، ضایعات انرژی به عنوان یک معضل جدی مطرح است، با برآورد ضایعات بین ۳۵ تا ۴۰ درصد در سیستم توزیع برق. این ضایعات نتیجه ناکارآمدی‌های سیستم توزیع، و سوء مدیریت در سکتور انرژی به‌خصوص در شرکت برشنا، تنها شرکت دولتی برق در کشور، می‌باشد.

**تولید انرژی:**

مطالعات نشان می‌دهد که ظرفیت تولید انرژی افغانستان به طور بالقوه به بیش از ۳۱۰ هزار میگاوات می‌رسد،از جمله ۲۳ هزار میگاوات از منابع آبی . با این حال، متاسفانه، عدم سرمایه‌گذاری در زیرساخت‌ها و تکنولوژی‌های جدید باعث شده است که این ظرفیت به شکلی بهینه مورد بهره‌برداری قرار نگیرد.

شکل ۱: با آن‌که افغانستان ظرفیت تولید ۳۱۰ هزار میگاوات برق را از منابع گونه‌گون دارد، اما اکنون هم ۷۵ درصد انرژی برق مصرفی کشور وارداتی است.




**شکل : تولید انرژی برق کشور از سال ۱۹۸۰ الی ۲۰۱۹ از منابع قابل دسترس کشور.**

**انتقال و توزیع انرژی:**

مسئله انتقال و توزیع انرژی در افغانستان به شدت تحت تأثیر عدم وجود یک شبکه ملی برق یکپارچه است. به دلیل فقدان زیرساخت‌های مناسب، میزان قابل توجهی از انرژی تولیدی در طول انتقال از بین می‌رود. در این راستا، نیاز به سرمایه‌گذاری در زیرساخت‌های انتقال و توزیع انرژی احساس می‌شود تا به کاهش ضایعات و بهبود ارسال برق به شهرها و روستاها کمک کند. بخصوص این‌که تأسیسات مناسب برای کنترل شبکه‌های توزیع از جمله ترانسفورمرها، ایستگاه‌های مقابله و خطوط ولتاژ بالا برای کاهش تلفات ضروری است.

**چالش‌های اجتماعی و اقتصادی:**

علاوه بر چالش‌های فنی، مشکلات اجتماعی و اقتصادی نیز بر ستراتیژی‌های مدیریت انرژی تأثیرگذار هستند. بر اساس مطالعات، فساد اداری و عوامل اقتصادی از جمله نپرداختن قبوض برق از سوی نهادها و شهروندان، مانع از بهبود سیستم توزیع انرژی می‌شود. همچنین، طیف گسترده‌ای از نهادهای دولتی در برنامه برق‌رسانی دخیل هستند که مشکلات مدیریت و هماهنگی را به وجود میآورد.

**راهکارهای پیشنهادی:**

برای بهبود موثریت در سکتور انرژی برق افغانستان، چندین راهکار به شرح زیر مطرح شده است:

- توسعه زیرساخت‌ها: سرمایه‌گذاری در زیرساخت‌های انتقال و توزیع برق برای کاهش ضایعات و بهبود کیفیت خدمات به کاربران ضروری است.

- تشکیل یک شبکه ملی برق: ایجاد یک سیستم برق یکپارچه برای کاهش تلفات و تضمین تأمین پایدار برق به جمعیت.

- افزایش شفافیت و مبارزه با فساد: بهبود نظارت بر عملیات عرضه کننده گان انرژی برق و تشویق به ایجاد سیستم‌های شفاف به منظور کاهش فساد.

- تشویق سرمایه‌گذاری‌های خصوصی: ایجاد شرایط جذاب برای سرمایه‌گذاران خصوصی در بخش انرژی و طرح راهکارهایی برای توسعه انرژی‌های تجدیدپذیر مانند پروژه‌های خورشیدی و بادی.

چارچوب تحقیق شامل دو بخش اصلی است

**چارچوب تحقیق:**

چارچوب تحقیق شامل دو بخش اصلی است

